د پایلیک (مونوګراف) موضوع:

# د پیسو نړیوال صندوق

## IMF (INTERNATIONAL MONETARY FUND)

تحقیق او ژباړه:

حماس رم

-

**د پایلیک(مونوګراف) موضوع:**

# د پیسو نړیوال صندوق

**IMF** ***(INTERNATIONAL MONETARY FUND)***

تحقیق او ژباړه: **حماس رم**

## اهداء:

خپلې خوږې ژبې ( پښتو) ته چې په علمي ډګر کې لکه د خپل ملت، خوار و زاره ده.

■ **حماس رم**

## یادؤنه؛

د خوست ولایت د **شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځي** څخه د فارغیدو په وروستي کال(۱۳۹۱ ل ) ما هم د استادانو په غوښتنه او د پایلیکونو(مونوګرافونو) د ثبت له شرایطو سره سم د **مونوګراف** د لیکلو لپاره همدا موضوع (**د پیسو نړیوال صندوق** )یا **IMF** غوره کړه؛ ما هغه وخت په پښتو ژبه کې د دې سازمان اړوند ډېر او تفصیلي څه و نۀ موندل، نو اړ شوم چې د موضوع د تکمیل لپاره **د پارسي منابعو ژباړې** ته مراجعه وکړم او بالاخره د څو میاشتو په جریان کې نوموړې موضوع تکمیل کړم.

پایلیک ته مې **کتابي بڼه** په همدې موخه ورکړه چې د **IMF** **دا** تحقیقي معلومات شاید اوس هم په پښتو ژبه کې **نوي** وي یا **د استفادې وړ** وګرځي.

له ملګري **سمون شریفي** څخه هم نړۍ مننه چې په دې بوخت وخت کې یې د ژبې د **خدمت** لپاره ملا تړلې او نوموړی کتاب یې له خپلو **انټرنیټي سرچینو** ستاسو تر مبارکو لاسونو دورورسولو.

■ **حماس رم**

**۱۴۰۴/۰۲/۲۳ هـ ل**

## لړلیک (فهرست)

## سرلیکونه:


<u>سریزه</u>

### اول څپرکی:

- د برتن ووډز کنفرانس او د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) د منځته راتګ علتونه او پشنهادي طرحې
- د برتن ووډز د سیستم اساسي عناصر
- د ازادۍ تبادلې د قابلیت اصل
- د تبادلې د ثابت نرخ سیستم
- د اسعارو او طلا ستنډرډ
- د لا رښود پولي واحد سیستم
- د امریکا د تادیاتو د بیلانس کسر او د برتن ووډز د سیستم زوال

### دویم څپرکی:

- د (IMF) اوسنی حالت
- د تبادلې د بدلیدونکي نرخ سیستم (Floating Exchange Rate)
- د اسعاري ذخیرې په توګه د اخیستو د ځانګړي حق(SDR) پیل او انکشاف
- د SDR ځانګړتیاوې او وظایف
- د SDR ورکړه او اخیستنه
- د SDR څخه د استفادې امکانات

## دریم څپرکی:

- د IMF اهداف
- د IMF غړي هیوادونه او د غړیتوب ځانګړتیاوې
- په IMF کې رایه اچونه او د هیوادونو ونډې
- د IMF اداري جوړښت
- د IMF د منابعو څخه د استفادې عمومي شرایط
- د IMF خپرونې
- د IMF ارتباط د نورو نړیوالو سازمانونو سره
- د پیسو د نړیوال صندوق او نړیوال بانک تر منځ توپیر
- د IMF په کړنو او سیاستونو باندې انتقادونه
- ماخذونه

## سریزه:

*پولي او مالي سازمانونه د هیوادونو په اقتصادي رشد او پرمختګ کی مرکزي رول لوبوي،په ځانګړي ډول د پیسو نړیوال صندوق ( IMF) چې د برتن ووډز د لوی او مهم اقتصادي کنفرانس په نتیجه کی په (1944 ) کال کی په امریکا کی رامنځته شو. د پیسو نړیوال صندوق چې د نړیوالو پولي او مالي معاملاتو د تنظیم له پاره رامنځته شو، د دویم نړیوال جنګ څخه وروسته یې د امریکا او اروپایي هیوادونو په اقتصادي پرمختګ باندې د پام وړ اغیزې درلودې او په نړیواله سطحه د پیسو په ارزښت کې د ثبات رامنځته کیدل د دې سازمان پایله وه. په برتن ووډز کې د پیسو د نړیوال صندوق د تاسیس کیدو په وخت کې د امریکا زیات اقتصادي قدرت د دې سبب شو چې خپلې رسمي پیسې د نړیوال پرداخت او ذخیرې په عنوان رامنځته کړي او حاضره شوه چې د ډالرو په مقابل کې صندوق ته طلا اداء کړي؛ خو د نړیوالو سیاستونو، اقتصادي سیالیو او د امریکا د متکبرانه کړنو په نتیجه کې د امریکا حکومت د ډالرو د پشتوانې څخه چې طلا وه عاجزه شوه، چې بالاخره د برتن ووډز سیستم په (1971) م کال کې له منځه لاړو. د دې سیستم د لمنځه تلو وروسته د نړیوال وجهي سیستم لپاره نوي مفکورې رامنځته شوې یعنی د ″ تبادلې د بدلیدونکي سیستم ″ او د ″اخیستو د ځانګړي حق (SDR)″ منځته راتګ، چې د مخ پر ودې هیوادونو د پولي او اقتصادي ازاد سیاست او د تادیاتو د بیلانس د تعادل لپاره یې زیات امکانات او شرایط برابر کړل.*

*که څه هم د صندوق یو شمیر کړنې او سیاستونه تر انتقادونو لاندې دي خو زیات شمیر هیوادونه د صندوق د برنامو په نتیجه کې بریالي شوي دي او نتیجې یې ورکړي. دا صندوق چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کی د نړیوال*

پولي تعاون د سریع کولو، د اقتصادي او مالي ثبات او ودې، د نړیوال تجارت د متوازن رشد او پراختیا او د نړۍ څخه د بیوزلۍ د تنزیل لپاره کار کوي، د نړۍ د ټولو هیوادونو د رشد له پاره، په ځانګړي ډول د مخ پر ودې هیوادونو د رشد او انکشاف له پاره ډیر ګټور او مهم ثابت شوی.

د دی سازمان غړي هیوادونه پدی بریالي کیږي چي د غړو هیوادونو له اقتصادي پالیسیو معلومات اود بانکي نظام له پاره تخنیکي مرستی ترلاسه کړي، د تبادلی په مسایلو اومالي او پولي چاروکی د مالي ملاتړ څخه برخوردار شي. همدارنګه د تادیاتو د بیلانس د مشکل له پاره قرضونه لاسته راوړي.

دا چې دغه سازمان (IMF ) له اقتصادي پلوه زیات اهمیت لري نو د اداری له موافقی سره سم مې وغوښتل چې پدې موضوع کی خپل مونوګراف په دریو څپرکیو کې ترتیب کړم.

تر خپلې وسې می هڅه کړې چې له معتبرو کتابونو څخه موضوع روښانه او پوهیدونکي تشریح کړم. له محترم استاذ امید (شرافت) څخه مننددوی یم چې د موضوع اړوند یې لازمې لارښوونې کړې.

په درناوي!

ذاکرالله (حماس)

شیخ زاید پوهنتون ،خوست

اداره او تجارت پوهنځی

1391هـ ل کال

# اول څپرکی

- د برتن ووډز کنفرانس او د (IMF) د منځته راتګ علتونه او پشنهادي طرحې
- د برتن ووډز د سیستم اساسي عناصر
  - ✓ د ازادې تبادلې د قابلیت اصل
  - ✓ د تبادلې د ثابت نرخ سیستم
  - ✓ د اسعارو او طلا ستنډرډ
  - ✓ د لا رښود پولي واحد سیستم
- د امریکا د تادیاتو د بیلانس کسر او د برتن ووډز د سیستم زوال

## ■د برتن ووډز کنفرانس* او د (IMF) د منځته راتګ علتونه او پشنهادي طرحې

د نولسمی پیړۍ په آخرو او د شلمی پیړۍ په لومړیو کی د صنایعو رشد او انکشاف د دې سبب شو چې د هیوادونو تر منځ تجارت په بی حده توګه دیرښت ومومی،چې په هغه وخت کی حتی چې د لومړی نړیوال جنګ څخه وروسته د خارجي تجارت پرداختونه (تادیات) او د هیوادونو تر منځ د طلا انتقال د قیمتي فلزاتو په شکل صورت نیوو. د وخت په تیریدو د نړیوال تجارت حجم زیات شو چې په نتیجه کی یې د طلا په ذخایرو کی کموالی رامنځته کړو او دولتونه په خارجي تادیاتو کی د مشکلاتو سره مخ شول،چې په هغه وخت کی هیوادونه د اقتصادي بې ثباتي له امله و نۀ توانیدل چې د پیسو یو نړیوال واحد چې ټولو هیوادونو ته د قبولیت وړ وي رامنځته کړي. بالاخره دا مشکلات په (1920) میلادي کال ډیر جدي شول او په دربمه لسیزه کې د شلمی پیړۍ لوی اقتصادي او سیاسي بحران پیل شو چې تر (1932)میلادي کال پوری یی دوام وکړو چې بالاخره د دویم نړیوال جنګ په پیل سره ختم شول. د لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته اقتصادي بې ثباتي،نامطلوبه تجربې او د تادیاتو په بیلانس کې د تعادل نشتوالي دا مسئله واضحه کړه چې که له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته د پیسو د ارزښت د ساتنې له پاره تصمیماتي ګام پورته نۀ شي نو د پیسو نړیوال میکانیزم به د تادیاتو په بیلانس کې د ناتعادلۍ په واسطه له منځه ولاړ شي. له بله طرفه له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته چې د امریکا متحده ایالات د جنګ اصلي ګټونکي ؤ، د تولید، مصرف او اولیه موادو په بازارونو یې چې له جنګ څخه مخکې د اروپایي هیوادونو په انحصار کې ؤ،هر اړخیز یرغل پیل کړ چې ډیر نړیوال سازمانونه پدې یرغل کې د وسایلو په توګه په کار واچول شول.

---

*Bretton woods Conference**

نو پدې لحاظ اکثر نړیوال سازمانونه چې له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته رامنځته شول د امریکا د مستقیم نفوذ او تاثیر لاندې ؤ.

د لومړي نړیوال جنګ څخه وروسته اقتصادي کمزورۍ او د تادیاتو په بیلانس کې د تعادل نشتوالي د ډیرو هیوادونو اقتصادي نظام په بر کې نیولی ؤ، خو دوه لویو صنعتي دولتونو امریکا او انګلستان د خپل مالي قدرت څخه په استفادې د خپل نړیوال حیثیت د ساتلو کوششونه کول او خپل د پیسو واحدونه یې په نظر کې ؤ، چې له یو څه وخت تیریدو وروسته انګلستان په (1931) کال کې د اقتصادان کینز په پیشنهاد د خپلو پیسو ارتباط له طلا سره بیل کړو. همدارنګه امریکا په (1923م) کال کې د خپلو پیسو ارزش 50% ټیټ کړو چې داګام ددې سبب شو چې نور هیوادونه هم ددوی په پیروۍ په خپل پولي وضیت له سره فکر وکړي چې دا حرکت د یوې ترخې اقتصادي تجربې باعث وګرځید او نظرونه یې دې ته متوجه کړل چې کیدای شي نړیوال اقتصادي او تجارتي روابط د زیاتو خطرونو سره مخ شي. نو په همدې سبب په جنګ کې متحدو دولتونو ددې مالي او پولي مشکلاتو د حل په منظور د (1944)م کال د جولای په میاشت کې د برټن ووډز(Bretton woods) په ښار کې د نیوهمشیر(New Hamshire) په ایالات کې چې د امریکا د متحده ایالاتو په شمال ختیځ کی واقع دی، یو کنفرانس دایر کړو چې ددې کنفرانس په نتیجه کې دوه نړیوال پولي او مالي سازمانونه د پیسو د نړیوال صندوق(IMF) او د پراختیا او بیاجوړونې د نړیوال بانک (IBRD) په نومونو رامنځته شول. پدی کنفرانس کې د نړۍ د (44) هیوادونو کارپوهان او نمایندهګان چې د ملګرو ملتونو د سازمان غړي هیوادونه وو، د یو نړیوال پولي نظام د څیړنې او د پولي مناسباتو د ثبات او تعادل په منظور سره راټول شوي وو.

د ملګرو ملتونو د (44) غړو هیوادونو د رسمي دعوت څخه مخکې امریکا او انګلستان خپلې طرحې تیارې کړي وې، که څه هم یو شمیر نورې طرحې د غړو هیوادو لخوا ارائه شوي وې خو د مذاکراتو تمرکز یوازې د امریکا او انګستان په طرحو پورې محدود شو.

- پورتنۍ پشنهادي طرحې په لاندې ډول وې:

د امریکا طرح چې د « نړیوالو مالي چارو د تثبیت د صندوق » په نوم وه، د وایټ (Hassy Dexter White) لخوا چې د امریکا د مالیې وزیر و او وروسته شوروي اتحاد ته د جاسوسۍ په جرم په اعدام محکوم شو، وړاندې شوه. وایټ د خپل هیواد د اقتصادي وضعې په لحاظ د کلاسیکو اقتصادي عقایدو پیرو ؤ، دۀ طلا په نړیوالو روابطو حاکمه بلله او د طلا قدرت یې د پولي قدرتونو څخه لوړ ګاڼه، د دۀ عقیده دا وه چې د پیسو یو نړیوال طلایي واحد باید رامنځته شي او نور اسعار باید ورسره مقایسه شي، یعنې د پیسو یو نړیوال صندوق دی جوړ شي چې درې مهم وظایف به سرته رسوي :

I. د نړیوالو خزانو به یو منبع وي.
II. د تبادلې نسبت به ټاکي او هغه به برقرار ساتي.
III. د تادیاتو په بیلانس کې به نقصان له منځه وړي.

له بله طرفه د انګلستان پشنهادي طرح چې نوم یې د « تبادلې نړیواله اتحادیه » وه، د کینز(John Minard Keynz) انګلیسي اقتصادان پواسطه وړاندې شوه،کینز عقیده درلوده چې پولي تجربو ثابته کړې چې هغه قواعد او اصول چې کلاسیکو اقتصادانانو د پولي معاملاتو د تنظیم له پاره وضع کړي، نور د نړۍ اقتصادي وضعې ته د نظم ورکولو جوګه نۀ دي،کینز معتقد و چې د هیوادونو پواسطه د پیسو د قواعدو په رعایت سره پیسې خپله خود بخود بې له دې چې په طلا باندې تکیه ولري،کولای شي په اقتصادي نظام کې نظم رامنځته کړي، د دۀ په عقیده دا چې په نړۍ کی د طلا اوسنۍ مقدار د هیوادونو تر منځ د پولي معاملاتو لپاره کافي نۀ دی نو د پیسو پیشرفت د ستونزو سره مخ کیږي او په نتیجه کې هغه هیوادونه چې طلا ؤ نۀ لري د ناغوښتي اقتصادي تورم (پولي پړسوب ) خوا ته پر مخ ځي. نو د هیوادونو پولي سیستم باید په یو لړ عواملو باندې لکه د تجارت یا راکړې ورکړې بیلانس، د تجارتي روابطو پراختیا او د تولنې په زیاتوالي متکي وي، نۀ په طلا باندې.

د پیسو هغه نړیوال واحد چې کینز پشنهاد کړی و د بانکور (Bancor) په نوم ؤ، پدې ډول چې د هغه زیاتوالی او کموالی په بشپړه توګه د امکان وړ ؤ. په حقیقت کې د کینز طرحې پیسې او د هغه مفهوم د بشر په اختیار کې ورکول، پداسې حال کې چې د وایت طرحې بشر د طلا اطاعت ته پوروړی کاوه.

که څه هم د کینز پشنهاد د اصولي نظره د کنفرانس د ټولو غړو د موافقت سبب وګرځید، خو دا چې امریکا د زیات اقتصادي قدرت څخه برخمنه وه او په جنګ کې په مستقیم ډول ښکیله نهٔ وه، نو د کینز طرحه یو طرف ته شوه او د وایټ طرحه د یو څه تغیراتو سره غړیو قبوله کړه.

پاتی د نهٔ وي چې له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته د امریکا هیواد یو عمده پورورکوونکی شمیرل کیده چې د نړی ټول پولي نظام د امریکا د پولي نظام پوروړی و. دې شرایطو د امریکا لپاره دا موقع لاسته راوړه چې خپلې غوښتنې په نړیوال پولي نظام تحمیل کړي او خپلې رسمي پیسې د نړیوال پرداخت او ذخیرې په عنوان رامنځته کړي، او حاضره شوه چې د ډالرو په مقابل کې صندوق ته طلا اداء کړي. د صندوق غړي هم موافق شول چې په ډالرو اعتماد وکړي او د خپلو ډالري ذخایرو په مقابل کې له امریکا څخه طلا و نهٔ غواړي ، خو امریکا لدې موقعیت څخه سوء استفاده وکړه او د ډالرو په بې شمیره چاپ چې پشتوانه یې نهٔ درلوده لاس پورې کړ، چې وروسته د ډالرو په مقابل کې د طلا په پرداخت کې پاتې راغله او د برتن ووډز د پولي نظام زوال رامنځته شو چې وروسته به په تفصیل سره وڅیړل شي.

ماخذ (6: 3-7)

باید یادونه وکړو چې دوه نورې طرحې د فرانسې او کاناډا د دولتونو لخوا وړاندې شوې، چې د فرانسې د دولت طرحه د (1943) کال د مې په میاشت کې « د نړیوالو پولي اړیکو » په نوم او د کاناډا د دولت طرحه د (1943) کال د جولای په میاشت کې د « نړیوالې تبادلې د ټولنې» په نوم وړاندې کړې،خو یواځې د امریکا او انګلستان طرحې تر بررسی او مطالعې لاندې ونیول شوې.

د پیسو نړیوال صندوق د (1945) م کال د دسمبر په 27  په داسې وخت کې رسماً خپل فعالیت پیل کړو چې اساسنامه یې د 29 هیوادونو لخوا لاسلیک شوي وه او د(1946) افتتاخیه غونډې یې یو کال وروسته عملاً د (1947) کال د مارچ په میاشت کې مالي چارې پیل کړې.

ماخذ ( 217:7)

اوس غواړو چې د برتن ووډز د سیستم اساسي عناصر،د برتن ووډز د سیستم زوال او اوسنی (IMF) په مفصل ډول سره وڅیړو.

## ■د برتن ووډز د سیستم اساسي عناصر

د برتن ووډز سیستم په حقیقت کې د نړیوالو روابطو یو ترکیب دی چې دغه روابط  د برتن ووډز په جلسه یا وروسته د پیسو د نړیوال صندوق او نړیوال بانک په هر اړخیزې همکارۍ ایجاد شول او د صندوق د اجرائیه هیات لخوا تصویب شویدي.

برتن ووډز په دوه اساسي اهدافو استوار ؤ:

1) د مختلفو هیوادونو د پیسو تر منځ د ازادې تبادلې پرنسیپ یا اصل
2) د ثابتې تبادلې د نرخ پرنسیپ یا اصل

د دغه دوه اساسي اصلونو یا هدفونو تر څنګ په لومړیو کې د طلا او اسعارو ستنډرد او له  (1971م) کال څخه وروسته د طلا، اسعارو او SDR ستنډرد رامخې ته شول. همدارنګه د ( key currency) یا لارښود پولي واحد موضوع چې د خاص ماهیت لرونکي ده رامخې ته شوه ، چې پورتني موضوعات په ترتیب سره تر بحث لاندې نیسو.

## ● د ازادۍ تبادلې د قابلیت اصل

د پیسو د ازادې تبادلې قابلیت یو تر بله په صنعتي هیوادونو کې یوه طبیعي موضوع تشکیلیدله  او په نړیوال وجهي نظام کې د مرکزي اهمیت درلودونکي وه، پاتې د نهٔ وي چې دغه اصل د صندوق د رامنځته کیدو څخه مخکې د جرمني او سویس لخوا هم تر استفادې لاندې نیول شوی و، خو د صندوق د رامنځته کیدو څخه وروسته یې یو خاص مقام لاسته راوړو. په (1930م) کلونو کې حمایوي سیاستونو، د اسعارو صرفه جویۍ (د اسعارو کنترول) او د تجارتي راکړې ورکړې دوه اړخیزه روابطو د سرمایې او مالونو خوځښت فوق العاده ټیټ کړو چې پواسطه یې د کار د نړیوال ویش مزیت او د سرمایې د خوځښت ازادي له منځه لاړه. دغه امر د دې باعث شو چې د برتن ووډز مبتکرین په نړیوال اقتصاد کې ازادي د یوې اساسي قاعدې په توګه وپیژني، نو په همدې اساس د تجارتي راکړې ورکړې ازادي او د سرمایې خوځښت د مطالعې اصلي نقاط وګرځیدل. څرګنده ده چې د تجارتي معاملاتو ازادي او د سرمایې خوځښت د نړیوالو پیسو تر منځ د ازادې تبادلې د قابلیت څخه بغیر غیر متصور دی.

د غړیو د مکلفیتونو او د دوی د پیسو تر منځ د تبادلې د قابلیت له پاره اصول او قواعد د صندوق  د اساسنامې په اتمه ماده کې ترتیب شوي چې د غړیو هیوادونو دغه مکلفیتونو د نړیوال وجهي صندوق مرکز او هسته تشکیلوي، چې لاندې په خلص ډول ذکر کیږي.

- د پیسو هغه فغالیتونه چې تبعیضي جنبه لري باید چې غړي یې ترسره نهٔ کړي لکه د تبادلې د متعدد نرخ* څخه استفاده.

---

* د تبادلې متعدد نرخ( Multiple exchange rate ) : لدې سیستم څخه په (1930) کال کې په جرمني کی استفاده کیدله ، چې پدی سیستم کی د مختلفو معاملاتو له پاره د تبادلې مختلف نرخونه وضع کیدل، مثلاً د لوکسو اجناسو د وارداتو د کموالي له پاره د تبادلې یو لوړ نرخ وضع کیده او د خامو موادو او ضروري اجناسو د وارداتو لپاره ټیټ نرخ وضع کیده.

- غړي هیوادونه باید په نړیوالو تادیاتو او حوالو باندې محدودیتونه وضع نهٔ کړي.

- غړي هیوادونه باید خپلې ملي پیسې چې د تادیاتو او تبادلې له پاره یې عرضه کوي باید چې په طلا یا د عرضه کوونکي هیواد په اسعارو تبدیل کړي.

د پیسو نړیوال صندوق کولای شي چې په استثنایي حالاتو کې بعضې هیوادونه لدې مکلفیتونو څخه په موقتي توګه معاف کړي.

## • د تبادلې د ثابت نرخ سیستم

د نړیوال وجهي سیستم اساسي هدف د تبادلې ثابت نرخ تشکیلولو، خو په (1973م) کال کې د یو شمیر دلایلو په اساس چې وروسته به وڅیړل شي،صرف نظر ترې وشو او ځای یې د تبادلې بدلیدونکي نرخ ونیو. په اوسني وخت کی د تبادلې ثابت نرخ د صندوق د چوکاټ څخه بهر د اروپایي اتحادیې د غړو هیوادونو ترمنځ د تبادلې د بدلیدونکي نرخ سره یو ځای تطبیق کیږي، چې د اتحادیې د غړو تر منځ د تبادلې د ثابت نرخ څخه او د هغه هیوادونو سره چې په اتحادیه کی شامل نهٔ دي د تبادلې د بدلیدونکي نرخ څخه استفاده کیږي.
د تبادلې د ثابت نرخ د سیستم په اساس د اموالو، خدماتو او سرمایې صادرونکي او واردونکي او د نړیوالو تجارتي معاملاتو نوره برخه اخیستونکي په طویل المدت ډول مطمین وي چې د خپلو اسعاري مبالغو په مقابل کې د پیسو یو معین مقدار لاسته راوړلی یا مصرفولی شي، چې د ثابتې تبادلې په نرخ کې دغه ډاډ د کار په بین المللي ویش کې اسانتیا رامنځته کولی شي. پدې ترتیب تولید په هغه ځای کې صورت نیسي چې د مصارفو له نقطه نظره مساعد وي.

د ثابتې تبادلې د نرخ سیستم چې د صندوق د موافقتنامې په څلورمه ماده کی تثبیت شوی ؤ، غړو هیوادونو به د صندوق په همکارئ د خپلو ملي پیسو د تبادلې قیمت د ډالرو، طلا یا $SRD$ په مقابل تثبیت کولو او دغه نرخ به یې د خپلو مرکزي بانکونو په قوانینو کی ذکر کولو.
علاوه لدې څخه د صلیبي نرخونو* له طریقه د هیوادونو تر منځ د پیسو نرخ یا قیمت د طلا یا ډالرو په اساس تثبیت کیده. د صندوق هر غړی مکلف دی چې د اسعارو په بازار کی مداخله کوونکو ته اجازه ورنه کړي چې د خپلو ملي پیسو نرخ د لارښود نرخ په مقابل کې د یوې معینې فیصدی څخه لوړ یا کم کړي.

---

*صلیبي نرخونه (cross rate): کله چې د یوه غیرډالري پولي واحد تبادله له بل غیر ډالري پولي واحد سره کیږي مثلاً د مارک تبادله له فرانسوي فرانک سره. دا چې دلته ډالر د پولي واحد په حیث په معامله کی شتون نهٔ لري خو بیا هم د سنجش یا تصفیوي وسیلي په توګه رامخکې کیږي چې پدی حالت کې له صلیبي نرخونو څخه خبرې کیږي.

د (1971م) کال د دسمبر له 18 څخه تر بدلیدونکي سیستم پورې د نوسان دغه ساحه په مجموعي ډول $\pm 2.15\%$ او د اروپايي اتحادیې د هیوادونو تر منځ $\pm 1.125\%$ ته رسیدلي وه. په نړیوال وجهي سیستم کې د تبادلې ثابت نرخ ته د خاصو شرایطو لاندې د تغیر اجازه ورکول کیده، په یو مملکت کې هغه وخت د تبادلې په ثابت نرخ کې تغیر راوستل کیدای شو چې د تادیاتو د بیلانس د تعادل په برخه کې یې اساسي دلیل موجود و یا په بل عبارت په هغه صورت کې چې په بازار کې د عرضه او تقاضا د مازاد مشکل په بل ډول یا د تادیاتو د بیلانس د سیاست د وسایلو پواسطه یې نشو کولای چې دغه مشکل له منځه یوسي. د موافقتنامې د څلورمې مادې د پنځمې فقرې په نظر کې نیولو سره د ملي پیسو د تبادلې د نرخ تغیر پدې ډول چې د یوه هیواد اقتصاد ورغوي او د نورو هیوادونو د اقتصاد د غریبیدو سبب شي (to beg my neighbor policy) هیڅکله نۀ ترسره کیده .

کچیرې د تبادلې د نرخ دغه تغیر د صندوق په موافقه د ملي پیسو د ارزش د زیاتوالي( Revolution) یا د ارزش د کموالي ( Devolution) له پاره رامنځته کیده نو جواز یې درلوده. علاوه لدې صندوق په استثنایي حالاتو کې یو هیواد ته د تبادلې د متعدد نرخ د تطبیق اجازه هم ورکوله ، خو د تبادلې د نرخ ازادول په مکمل ډول جواز نۀ درلودلو.

بالاخره د (1960م ) کلونو بحرانونو صندوق دې نتیجې ته ورسولو چې د ثابتي تبادلې د نرخ سیستم د نړیوال تجارت د پاینښت له پاره ګټور ندی ، نو د موافقتنامې د څلورمې مادې د تجدید نظر څخه وروسته د تبادلې د بدلیدونکي نرخ د اداره کولو له پاره مقرارات تر استفادې لاندې ونیول شول ( Guide line for the management of floating exchange rate).

که څه هم اکثره پوهان پدې عقیده وو چې د تبادلې د ثابت نرخ په نتیجه کې نړیوال تجارت له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته په ځانګړي ډول په پنځمه لسیزه کې یو روښانه دوره طې کړې ده او په پولي مسایلو کې نړیواله همکاري ډیره نږدې شوي ده، خو بیا هم د 60 کلونو تجربو ته په پام سره د تبادلې له بدلیدونکي نرخ څخه د نړیوال پولي استقرار له پاره صرف نظر نۀ شو کولای.

د پورتنيو دوه اساسي اهدافو په مقايسه کی ویلای شو چې :
لکه څرنګه چې وينو چې د تبادلې د قابليت اصل اوس هم د پيسو د نړيوال صندوق اساسي قاعده تشکيلوي او په لمنځه تلو يې د نړيوال وجهي سيستم د لمنځه تلو خطر وجود لري، خو د تبادلې ثابت نرخ خپل اهميت له لاسه ورکړو او د (1971م) کال څخه وروسته د تبادلې بدليدونکي نرخ د نړيوال تجارت په فعالولو کی خپله وظيفه هماغه ډول تر سره کړه.

د تبادلې د ثابت نرخ ( ډالر په طلا سره ) په لمنځه تلو دغه اصل خپل اهميت په مرکزي بانکونو کی تر زياتي اندازې له لاسه ورکړی خو په انفرادي ساحه يې اوس هم خپل اهميت په مکمل ډول له لاسه ندی ورکړی ، حتی بعضی پدی عقيده دي چې د تبادلې د ثابت نرخ بيرته راګرځيدل د SDR په اساس يو ضروري امر دی.

- **د اسعارو او طلا ستنډرډ**

د طلا او اسعارو د معيار په سيستم کی طلا نهٔ يوائې د ملي پيسو د پشتوانې په حيث بلکه هغه اسعار هم چې د تبادلې قابليت ولري د پيسو د پشتوانې په حيث وړاندې کيږي، دغه سيستم په (1922م) کال کی په هغه وجهي کنفرانس کې چې په جينوا کې داير شوی ؤ، رامنځته شو.

د هغه اسعارو له جملې څخه چې د ډالر تر څنګ د پشتوانې د ذخيرې په توګه پيژندل شوی و د پونډ سټرلنګ نوم يادولای شو، ځکه چې د پونډ سټرلنګ اهميت له لومړي نړيوال جنګ څخه مخکې زيات ؤ.

دا چې د طلا او اسعارو معيار د صندوق پواسطه نهٔ و رامنځته شوی ، بلکې دغه سيستم د موافقتنامې د چوکاټ څخه خارج د اساسي اهدافو تر څنګ رامخکې شو چې د وجهي سيستم يوه عمده برخه يې تشکيل کړه. دغه سيستم ته که څه هم د صندوق په موافقتنامه کی ځای نهٔ و ورکړل شوی، خو په عمل کی د مرکزي بانکونو لخوا د اسعارو په بازار کی د پولي استقرار په غرض تر استفادې لاندې ؤ.

د وخت په تیریدو د پونډ سټرلنګ اهمیت د لاربنود پولي واحد په توګه کم شو په ځانګړي ډول له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته. او له ډالر څخه د یواځني لاربنود پولي واحد د وسیلې په توګه استفاده کیدله، همدارنګه د پیسو د نړیوال صندوق د قرارداد څخه بغیر د مرکزي بانکونو د اسعاري ذخایرو یوه لویه برخه ډالرو تشکیلوله. ډالر چې په لومړیو کی د طلا تر څنګ د پیسو د پشتوانې د یوې فرعي وسیلې په توګه په نړیوال اقتصاد کی راڅرګند شول ، نو د طلا رول یې چې د ذخیرې اساسي وسیله وه، ورو ورو تیت کړو او په عوض کی یې د یوازینۍ وسیلې په توګه د ذخیروي پولي واحد وظیفه پر غاړه واخیسته.

حتی تر دې چې په (1961م) او (1962م) کلونو کی د صنعتي هیوادونو اعتماد په ډالر باندې دومره اوج ته ورسیدو چې ډالر یې د نړیوالې تبادلې د یوازینۍ وسیلې په توګه پیژندل ، او د تبادلې په نورو اسعارو مخصوصاً پونډ باندې یې اعتماد کم شو. علاوه د دی څخه په نړیوالو پولي انتقالاتو کی طلا سقوط وکړو او ځای یې ډالر ونیو، نو پدی اساس کولای شو چې د طلا او اسعارو د ستندرد په عوض د ډالر او طلا له ستندرد څخه خبرې وکړو.

دغه حالت چې ډالر په نړیوال وجهي سیستم کی یو لوړ مقام لاسته راوړی ؤ، او په نړیواله صحنه کی یې د پیسو وظایف (د ارزش دساتنې وسیله، د ارزش د مقیاس وسیله،د ذخیرې وسیله، د انتقال وسیله ) په رسمي او انفرادي ساحو کې سر ته رسول، د (1970م) لسیزې تر لومړیو پورې دوام وکړو.

پونډ سټرلنګ که څه هم دغه وظایف تر یوې اندازې سر ته رسول خو حدود یې د مشترک المنافع هیوادونو تر ساحې پورې تړلي ؤ. د (1970م) کال په لومړیو کی د ډالر بحران د ډالر اهمیت د لاربنود پولي واحد په توګه کم کړو، چې د دی باوجود طلا ؤ نۀ کړای شول چې خپل لومړنی مقام بیرته لاسته راوړي ، چې په مقابل کی یې د اخیستو د ځانګړي حق (SDR) په نوم یو بل ستندرد منځته راغی چې تر زیاتې اندازې پورې یې د ډالر مقام ونیوو، چې په راتلونکې کې به وڅیړل شي.

## • د لارښود پولي واحد سیستم

په بنیادي توګه د صندوق د موافقتنامې په اساس ټولو پولي واحدونو ته مساوي ځای ورکړل شویدی، خو دلا رښود پولي واحد تر سیستم لاندې د مختلفو هیوادونو پولي واحدونه د یو شمیر قوي او مهمو پولي واحدونو لکه ډالر، پونډ، الماني مارک، فرانسوي فرانک، سویسي فرانک او جاپاني ین په مقابل کی عیاریدل. د برتن ووډز په فرمول کی داسې فرض شوي دی چې یو شمیر هیوادونه د مساوي حق درلودونکې او په نړیوال وجهي سیستم کی یو څو اړخیز تنظیمي پروسس وجود لري، پداسې حال کی چې د لا رښود پولي واحد په سیستم کی د سیاسي موافقاتو په اساس باید د لا رښود پولي واحد اداري مقامات مسوؤلانه او په منظم ډول رفتار وکړي. د تنظیمي اصل په اساس (coordination principle) د لا رښود پولي واحد سیستم تړلی ؤ، ځکه چې قوي پولي واحدونه نهٔ یواځې په نړیوال تجارت او تادیاتي معاملاتو حاکمیت لرلو بلکه د تادیاتو او مداخلې وسیله (په پولي او اسعاري بازارونو کې) او د مرکزي بانکونو په سطحه یې ذخیروي وظایف سر ته رسول.

د پورتنیو تشریحاتو په اساس طلا کولای شي چې د نړیوال پولي واحد په توګه وړاندې شي خو د لا رښود پولي واحد په توګه نه، ځکه چې د طلا په مقابل کې د یو نړیوال قدرت اقتصادي سیاست وجود نهٔ لري.

طلا د مقایسې په شکل د نړیوالو پیسو یوه وسیله ده ، خو د لا رښود پولي واحد وظایف او مکلفیتونه نهٔ شي تر سره کولای.

د دویم نړیوال جنګ څخه وروسته وجهي سیستم دوه لا رښود پولي واحدونه یعنې ډالر او پونډ پیژندل ، خو د دوی تر منځ لاندې تفاوتونه موجود ؤ:

- ډالر زیاتره نړیواله جنبه لرله او په برتن ووډز کی د خاص اهمیت لرونکی ؤ، پداسی حال کی چې پونډ په یو منطقوي بلاک کی اهمیت درلوده.

- د ډالر شاته یو نړیوال قدرت چې د دویم نړیوال جنګ ګټونکی و، موجود و، چې ډالر ته یې یو خاص وزن ورکړو، پداسې حال کی چې د پونډ اهمیت په مشترک المنافع هیوادونو پوری محدود ؤ.

له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته د انګلستان د سیاسي قدرت محدودوالي (د مستعمراتي هیوادونو ازادي) په ځانګړي ډول په شپېتمو کلونو کی د پونډ اهمیت محدود کړو او په نړیوال سیالیت کی یې رول کمزوری شو، چې د پونډ د ارزش په کموالي سره د انګلستان د مرکزي بانک ذاتي دارایي کمه شوه ، حتی تر دی چې په (1968م) کال کی د بازل (سویس) په کنفرانس کی د پونډ د سقوط د مخنیوي له پاره انګلستان ته قرضه ورکړل شوه. پدی اساس پونډ هیڅکله ونشو کړای چې د پیسو په نړیوال صندوق کی د ډالر موقف لاسته راوړي، او دا چې تر ( 1967م) کال پوری پونډ تر یوې اندازې د دویم لارښود پولي واحد په توګه وظیفه تر سره کړه ، د امریکا او ډالرو د ملاتړ پوروړی دی. د دی په مقابل کی ډالر د (1971) کال تر بحرانه پورې په مرکزي بانکونو او انفرادي ساحه کی زیات اهمیت درلوده، چې په لاندې ډول تشریح کیږي:

<u>د مرکزي بانک په ساحه کې</u>

- د مختلفو هیوادونو د پیسو مقایسه او د هغوی د تبادلې نرخ د ډالر په مقابل کی تثبیت کیده.
- د ډالرو د مداخلوي وظیفې په اساس مختلف هیوادونه مکلف شول چې د صندوق د موافقتنامې د څلورمې مادې لاندې د خپلو پیسو د تبادلې د نرخ د استقرار په عرض د اسعارو په بازار کی مداخله وکړي چې دغه حالت د تبادلې بدلیدونکي نرخ ته جواز ورکړ.
- امریکایي ډالر د تادیاتو د وسیلې په توګه په نړیوالو تادیاتو کی وړاندی شول، او د انتقالاتو یوې لویې برخې د ډالر پواسطه صورت نیولو او د تادیاتو بیلانس د همدې وسیلې پواسطه توازون پیدا کړو.

په انفرادي او خصوصي ساحه کې

- ډالر د نړیوالو تجارتي معاملاتو د تر سره کیدو په برخه کې د نړیوال حاکم پولي واحد په توګه فعال رول لرلو او اوس یې هم لري.
- نړیوال مالي معاملات په ځانګړي ډول د سرمایې او قرضونو انتقال د ډالر پواسطه ترسره کیده.
- په خصوصي ساحه کی هم ډالر د ارزش د ساتنې د وسیلې په توګه د زیات اهمیت لرونکی ؤ.
- ډالر د تصفیوي وظیفې درلودونکی ؤ.
- او په ډیرو مخ پر ودې هیوادونو کی ډالر د تادییې د مستقیمې یا غیر مستقیمې وسیلې په توګه پیژندل کیدل، حتی چې د کاربیک او منځني ختیځ په ځینو هیوادونو کی د ډالر او د دوی له ملي پیسو څخه په معاملاتو کی په موازي ډول ګټه اخیستل کیده.

په خلص ډول ویلای شو چې ډالر سربیره پردې چې یو شمیر بحرانونه یې شاته پریښي دي، خو تر اوسه یې هم اهمیت ندی کم شوی او د یو شمیر لویو صنعتي هیوادونو پولي واحدونه د لاړښود پولي واحد په توګه ونه توانیدل چې د ډالرو مقام لاسته راوړي.

ماخذ ( 4: 425ـ 435)

## ■ د امریکا د تادیاتو د بیلانس کسر او د برتن ووډز د سیستم زوال

امریکا د (1945) او (1949) مېلادي کلونو تر منځ د تادیاتو په بیلانس* کی لوی مازاد درلوده  چې د اروپایي هیوادونو سره یې د مارشال د پلان له لارې کومک کولو. د امریکا د تادیاتو بیلانس په (1950م) کال کی د کسر خواته لاړو،چې دغه کسر تر (1957م) کال پورې نسبتاً کوچنی و (په کال کی د یو ملیارد ډالرو په حدودو کی).

---

*د یو هیواد د تادیاتو بیلانس(BOP):ــ د ټولو هغه اقتصادي معاملاتو د یو منظم احصایوي جدول څخه عبارت دی چې په یوه معینه دوره(معمولاً یو کال) کی یې د یو هیواد اوسیدونکي د بل هیواد له اوسیدونکو سره ترسره کوي. د تادیاتو د بیلانس تعادل هغه وخت رامنځته کیږي چې خارج ته د تادیاتو جریانات (د اجناسو او خدماتو د واردولو او د دارایی د اخیستنې لپاره) او د هیواد داخل ته د نورو هیوادونو تادیات (د اجناسو او خدماتو په صادرولو او د دارایی په خرڅلاو سره) باید چې سره مساوي وي.کچېرې خارج ته د تادیاتو جریان اضافه شي نسبت داخل ته د تادیاتو په جریان باندې، نو هیواد د تادیاتو د بیلانس د کسر سره مخ کیږي یعنی دیبت نظر کریدیت ته اضافه کیږي، چې دغه کسر باید د اسعارو، طلا او SDR د صادرولو له لارې رفع کړي.کچېرې د هیواد داخل ته د تادیاتو جریان زیات وي نسبت خارجي تادیاتو ته ، نو د تادیاتو په بیلانس کی مازاد رامنځته کیږي یعنی کریدیت نظر دیبت ته لوړیږي ،چې د دی مازاد معادل اسعار یا طلا لاسته راوړي او یا یې په خارج کی دارایی اضافه کیږي. د تادیاتو په بیلانس کی لاندې بیلانسونه شامل دي:

- د تجارت بیلانس
- د خدماتو بیلانس
- د ډالیو او یو اړخیزه انتقالاتو بیلانس
- د لنډمهالی او اوږد مهالی سرمایې بیلانس
- د رسمي ذخایرو بیلانس
- اشتباهات او ناتوضیح شوي اقلامو بیلانس

دې کسر اروپايي هيوادونو او جاپان ته دا موقع ورکړه چې خپل نړيوال ذخاير زيات کړي، چې پدی وخت کی د ډالرو کمبود احساس شو. داسې چې امريکا ډيری وخت د بيلانس کسر د ډالرو پواسطه پوره کولو.

مازاد لرونکيو هيوادونو ډالر په خپلو معاملاتو کی قبول کړل ځکه چې :

a) امريکا حاضره وه چې د ډالرو په مقابل کی طلا ورکړي، يعنی ډالر د طلا حکم لرلو.
b) نورو هيوادونو کولای شول چې له ډالرو څخه په نړيوالو تاديوي معاملاتو کی استفاده وکړي، يعنی ډالر يو نړيوال پولي واحد ؤ.
c) د ډالر په امانتونو(Deposits) سود تاديه کيده پداسې حال کی چې د طلا په امانتونو سود نۀ تاديه کيدلو.

د (1958م) کال څخه وروسته د امريکا د تادياتو بيلانس مخ په زياتيدو شو چې په کال کی دری مليارده ډالرو ته ورسيدو، چې د دی کسر علتونه د امريکا څخه د سرمايې وتنه او د ويتنام د جنګ د تمويل لپاره د نويو پيسو په منځته راتګ سره د پيسو د تورم لوړوالی ؤ.

په (1970م) کال کی د خارجي هيوادونو د ډالرو د ذخايرو مقدار (40) مليارده ډالرو ته ورسيدو چې دغه ذخاير په (1949م) کال کی (13) مليارده ډالر ؤ،پدی احصائيه کی هغه ډالر نۀ دي شامل چې د خارجي خصوصي اشخاصو او موسساتو په لاس کی و. په همدی وخت کی د امريکا د طلا ذخاير چې په کال (1949م) کی (25) مليارده ډالر ؤ، په (1970م) کال کی (11) مليارده ډالرو ته راکم شول.

دا چې ډالر يو نړيوال پولي واحد و نو امريکا فکر کولو چې د تادياتو د بيلانس د کسر له پاره بايد د ډالر د ارزښت د کمښت څخه استفاده و نۀ کړي او په عوض يې له هغه وسايلو څخه چې محدود اثرات ولري استفاده وکړي، چې د دې وسايلو له جملې څخه د لنډ مهالي سود د نرخ لوړول و تر څو پواسطه يې وکړای شي چې د سرمايې د خروج څخه مخنيوی وکړي،ولې په عين وخت کی د اقتصادي رشد د پاينبت له پاره د سود

اوږد مهالي نرخ تېتوالی وکړو. همدارنګه يې د سرمايې د خروج د مخنيوي لپاره د اسعارو په بازار، او په نقطوي بازار کې د ډالر د حمايې لپاره مداخله پيل کړه. علاوه د دې څخه يې د صادراتو د تشويق له پاره اقدامات ونيول مثلاً د سلاح او د جنګ د وسايلو د اخيستو سره سم د غربيو هيوادو سره کومکونه او خپل نظامي او حکومتي مصارف يې کم کړل . بالاخره د سرمايې د وتلو د مخنيوي له پاره يې له ځينو مستقيمو وسايلو څخه استفاده وکړه لکه د سود د نرخ يو شان ماليه، د خارجي سرمايه ګذاری پروګرام او خارجيانو ته د بانکي قرضونو د اندازی او حد ټاکل.

همدارنګه يې يو شمير نور اقدامات په طلا باندی د خارجي ډالرو د مخنيوي له پاره پيل کړل مثلاً د قرضې د پاڼو نشرول (Roosa bonds) چې د تبادلې ثابت نرخ يې تضمين شوی ؤ؛ خو د دې ټولو اقداماتو سره سره د امريکا د تادياتو د بيلانس کسر دوام وموند او د طلا ذخاير يې مخ په کميدو شول، چې په (1970م) کال کې د هغه ډالرو مقدار چې په خارج کې و د امريکا د طلا د ذخايرو څلور چنده شوی ؤ.

په (1970م) او (1971م) کلونو کې امريکا ډير کوشش وکړو چې د تبادلې نرخ په ځانګړي ډول د جرمني مارک او جاپاني ين په مقابل کې لوړ کړي خو کاميابه نۀ شوه، لدې وجې د ډالرو د ارزش د کمښت له پاره توقعات زيات شول او سرمايې له ډالرو څخه نورو قوي پولي واحدونو ته تغير شکل وکړو.

بالاخره د ( 1971م) په اګست کې د امريکا جمهور رئيس نکسن د ډالر تبديلي په طلا باندې لغوه اعلان کړه ، علاوه د دې څخه يې دقيمتونو او مزدونو کنترول پيل کړو او په وارداتو يې 10% اضافي ماليه وضع کړه. په دغه دوره کې چې امريکا کومه ګټه د پيسو د نشر له امتياز او د نړيوالې بانکداری څخه لاسته راوړه په نړۍ کې د بل هيڅ هيواد له پاره برابره نۀ شوه، خو د دې ګټې په مقابل کې يې زيات مصارف هم وزغمل ځکه چې کسر يې د ډالرو د ارزش د کمښت له لارې له منځه نۀ شو وړای او همدارنګه يې د پولي سياستونو څخه کمه استفاده کولای شوه ځکه چې د داخلي سياليت په څنګ کې يې بايد د نړيوال سياليت جنبه رعايت کړی وای، نو لدې وجې امريکا زياتره په اقتصاد کې له مالي سياستونو څخه استفاده کوله؛ خو جرمني، جاپان، فرانسې او يو شمير نورو هيوادونو

امریکا د ډالر د دې خاص موقعیت څخه په سو استفادې متهمه کوي. وروسته لدی چې د (1971م) کال په اګست کې د طلا بدلون په ډالر باندې لغوه اعلان شو نو د همدی کال په دسمبر کی د لسو صنعتي هیوادونو نماینده ګانو په واشنګتن کی ملاقات وکړو او موافقه یې وکړه چې د طلا ډالري قیمت له 35 ډالرو في اونس څخه 38 ډالره في اونس ته لوړ کړي یعنی د ډالر د ارزش کمبود د 9% په اندازه ۇ. په عین وخت کی د الماني مارک ارزش 17% او جاپاني ین ارزش 14% د ډالر په مقابل کی لوړ شو.له بله طرفه د تبادلې د نرخ بدلیدونکي ساحه له یو فیصد څخه 2.25% پورته او ښکته طرف ته اضافه شوه او امریکا په وارداتو باندې 10% اضافه تعرفه له منځه یوړه. جمهور رئیس نکسن وعده وکړه چې د ډالرو ارزش به نور هیڅکله ټیټ نهٔ شي خو په (1972م) کال کی د امریکا په جاري بیلانس کی د لس ملیارده ډالرو د کسر له امله موافقه وشوه چې د ډالرو ارزش باید نور هم ټیټ شي، چې دغه موافقې د ډالرو د ارزش د کمښت توقعات زیات کړل او د (1973م) په فبروری کی په ډالرو کی دوباره د لس فیصدو په اندازه د ارزش کمښت رامنځته شو، او د طلا د یو اونس قیمت 42.22 ډالرو ته لوړ شو.

ماخذ ( 4 :447ـ 451 )

که څه هم د برتن ووډز د سیستم څرګند علت په (1970م) او (1971م) کلونو کی د امریکا د تادیاتو د بیلانس لوی کسر ۇ، خو اصلي علت یې په سیالیت ، توافق او اعتماد پورې تړلي مشکلات ۇ.

ماخذ ( 5: 139)

## دویم څپرکی

- **د (IMF) اوسنی حالت**
- د تبادلې د بدلیدونکي نرخ سیستم (Floating Exchange Rate)
- د اسعاري ذخیرې په توګه د اخیستو د ځانګړي حق(SDR) پیل او انکشاف
  - ✓ د SDR ځانګړتیاوې او وظایف
  - ✓ د SDR ورکړه او اخیستنه
  - ✓ د SDR څخه د استفادې امکانات

## ■ د (IMF) اوسنی حالت

د تبادلې ثابت نرخ چې د نړیوال وجهي سیستم اساسي هدف یې تشکیل کړی و د ډالر، پونډ او نفتو د بحران او په ډالر باندې د لارښود پولي واحد په توګه د اعتماد د کموالي په اساس له منځه لاړو، نو د نړیوال وجهي سیستم لپاره نوي مفکورې رامنځته شوې، چې له هغه جملې کولای شو چې د تبادلې د بدلیدونکي نرخ له سیستم Floating Exchange (Rate)او د اخیستو د ځانګړې حق(*SDR* (*Special Drawing Rights* څخه نوم واخلو چې هر یو په لاندې ډول تشریح کوؤ.

## ■د تبادلې د بدلیدونکي نرخ سیستم (Floating Exchange Rate)

کله چې څرګنده شوه چې د تبادلې د ثابت نرخ سیستم نجات ورکوونکی نهٔ دی، نو غړیو هیوادونو موافقه وکړه تر څو د تبادلې نرخ په موقتي ډول ازاد پرېښودل شي او د خپلو ملي پیسو نرخ د ډالر په مقابل کې د بازار د عرضه او تقاضا په اساس تثبیت کړي. همدارنګه په نظر کې وه چې کله هم نړیوال اقتصادي شرایط تر یوی اندازی ثبات ومومي، نو د تبادلې ثابت نرخ ته به دوباره مراجعه کیږي پدی شرط چې 85% غړي موافقه وکړي، دغه موقتي حالت له (1973م) څخه تر ( 1974م) کال پوری دوام وکړو، خو د تبادلې د ثابت نرخ له پاره امکانات برابر نهٔ شول، چې د پیسو نړیوال صندوق په (1974م) کال کی د بدلیدونکي نرخ د اداره کولو اساسي خطونه تصویب کړل ( Guide line for the management of floating exchange rate).

په (1976م) کال کی د موافقتنامې د څلورمې مادې په تغیر سره د تبادلې د متعدد نرخ د سیستم څخه استفاده منع شوه ، همدارنګه یې هغه مفکوره چې د تبادلې ثابت نرخ یې په عین حال کی یو استقراري نرخ ګڼلو په مکمل ډول پرېښوده.

د ثابتې تبادلې د مسایلو په له منځه تلو سره دوه ډلې هیوادونه یو له بل څخه جلا شول:

اول:صنعتي هيوادونه چې د تبادلې بدليدونکي سيستم ته يې مراجعه وکړه،

او دويم: مخ پر ودې هيوادونه چې خپلې پيسې يې د ډالرو په مقابل کی مقايسه کولې.

له (1979م) کال وروسته يو شمير مخ پر ودې هيوادونو خپلې ملي پيسې د SDR په مقابل کی عيارولې او همدارنګه يې د تبادلې د نرخ نورو دولونو ته مراجعه وکړه. هغه هيوادونو چې د تبادلې د بدليدونکي نرخ څخه يې استفاده کوله له لومړيو څخه يې د ملي پيسو د تبادلې نرخ د نورو معتبرو اسعارو په مقابل کی ازاد پرېښود او د پيسو د تورم سره يې د مقابلې يوازينی وسيله ګڼله، خو بې له دی چې د تادياتو بيلانس ته توجه وشي د پولي سياست پر اوږو دروند بار واچول شو، نو ځينو هيوادونو فکر کولو چې د تبادلې د بدليدونکي نرخ پواسطه کولای شي چې ټول اقتصادي مشکلات خصوصاً د تادياتو د بيلانس کسر له منځه يوسي، خو وروسته څرګنده شوه چې د تبادلې د نرخ مکمله ازادي د تادياتو د بيلانس مشکلات زياتوي.

د ( Rambouillet) له کنفرانس وروسته چې په فرانسه کی داير شو د تبادلې د نرخ د اصلاح له پاره د اسعارو په بازار کی مداخلات رامنځته شول، چې نن ورځ دغسې هيواد نۀ شو پيدا کولای چې د پولي مقاماتو د مداخلې څخه بدون د تبادلې د ازاد نرخ درلودونکي وي.

(Haberler) د تبادلې د بدليدونکي نرخ په تړاو دوه اصطلاحوې يو له بل څخه جدا کوي:

- د تبادلې کنترول شوی بدليدونکي نرخ
- د تبادلې چټل يا کثيف بدليدونکي نرخ

په **کنترول شوي نرخ** کی ځينی وختونه د پولي مقاماتو لخوا (مرکزي بانک يا ماليې وزارت ) د اسعارو په بازار کی پدی مقصد مداخله صورت نيسي چې په منځ مهاله او اوږد مهاله وخت کی د تبادلې نرخ ثابت حالت ځانته غوره کړي، يعنی کوم وخت چې د خارجي اسعارو زيات مقدار د هيواد داخل ته راتلونکی وي او د ملي پيسو د تبادلې نرخ ټيټ کړي نو مرکزي بانک د اسعارو په اخيستو سره کوشش کوي څو د عرضه او تقاضا

تر منځ تعادل رامنځته کړي او د خارجي اسعارو په مقابل کی د خپلو ملي پیسو د ارزش له ټیټیدو څخه مخنیوی وکړي.

د دی برعکس هغه وخت چې په داخلي بازارونو کی د اسعارو کمبود رامنځته شي نو مرکزي بانک د اسعارو په عرضه کولو لاس پوری کوي او د اسعارو عرضه او تقاضا ته تعادل وربخښي او د خپلو ملي پیسو د ارزش له لوړوالي مخنیوی کوي.

د تبادلې د **کثیف نرخ** په سیستم کی د تبادلې د نرخ د اصلاح له پاره له اداري اقداماتو څخه استفاده صورت نیسي چې د تبادلې د نرخ تعادل په مصنوعي ډول رامنځته کیږي مثلاً د تبادلې د نرخ تجزیه په متعدد نرخونو باندې، وارداتي محدودیتونه یا د اسعارو په اخیستو باندې د مالیاتو وضع کول.

څرنګه چې مخکی اشاره وشوه چې وجهي سیستم د تبادلې متعدد نرخ ردوي ځکه چې د تادیاتو د بیلانس د مطابقت مخنیوی کوي او د نورو غړو په مقابل کی یو غیر مپیل رقابت رامنځته کوي، خو د پیسو نړیوال صندوق هغه کنترول شوی بدلیدونکي نرخ چې په موقتي او لنډ مهالي ډول د تادیاتو د بیلانس د تعادل له پاره تر استفادې لاندې نیول کیږي تائیدوي.

د تبادلې د بدلیدونکي نرخ د موثریت په اړوند باید د صنعتي او مخ پر ودې هیوادونو تر منځ توپیر وشي؛ په صنعتي هیوادونو کی د تبادلې بدلیدونکي نرخ باعث شو چې د امریکا د تادیاتو د بیلانس کسر او د جرمني او جاپان د تادیاتو په بیلانس کی مازاد ټیټوالی وکړي، که څه هم د دې سیستم په لومړیو کی په نړیوال تجارت کی ځینی مشکلات رامنځته شول خو د وخت په تیریدو یې وکولای شول چې د تادیاتو په بیلانس کی تعادل رامنځته کړي او د پولي تورم پایه ټیټه کړي. د مازاد لرونکو هیوادونو مثلاً سویس،جاپان او جرمني له پاره د تبادلې د بدلیدونکي نرخ سیستم د خاص اهمیت درلودونکی و ځکه چې دغه هیوادونه نور مکلف نهٔ و چې ټیټیدونکی ډالر د تبادلې په ثابت نرخ واخلي ، دغه هیوادونه پدی بریالي شول چې د دې سیستم پواسطه د لارښود پولي واحد په برخه کی له غلطې استفادې څخه مخنیوی وکړي او د دې هیوادونو ملي پیسو زیاته ازادي لاسته راوړه. د دې پر خلاف مخ پر ودې هیوادونو کی خصوصاً هغه هیوادونه کی چې د نفتي

ذخیرو درلودونکي نهٔ ؤ، د تبادلې د دې سیستم د تطبیق په لومړیو کی له ستونزو سره مخ شول چې عمده علتونه یې د نفتو د قیمت لوړیدل، د دې هیوادونو ورو رشد او ددوی د تولیداتو له پاره د صنعتي هیوادونو د تقاضا کموالی ؤ، علاوه لدې څخه په عمومي صورت سره د حقیقي تبادلې د نسبت خرابیدل او د خارجي تجارت له نویو شرایطو سره د داخلي اقتصادي او مالي سیاست نهٔ برابریدل یې موثر عاملونه ؤ.

دا چې د ډالر د خرید د قدرت ټیټېدل او د نفتو د قیمتونو لوړیدل د مخ پر ودې هیوادونو د غربت په مسایلو کی مهم رول لرلو، خو بیا هم کولای شو ووایو چې د تبادلې بدلیدونکي نرخ نسبت د تبادلې ثابت نرخ ته د مخ پر ودی هیوادونو د تادیاتو د بیلانس د تعادل له پاره زیات امکانات او شرایط برابر کړیدي.

په خلص ډول ویلای شو چې د تبادلې د بدلیدونکي نرخ د سیاست اصلي هدف د تادیاتو د بیلانس تضمین دی، او کولای شي چې د خارجي تجارت د نفوذ او تاثیر اندازه د پیسو په دایروي جریان او سرمایې باندې، د پولي استقرار او رشد او د عاید په سیاست باندی د ملي او سیاسي اهدافو په وسیله رهبري کړي، همدارنګه د تبادلې د بدلیدونکي نرخ په سیستم کی د پولي او اقتصادي ازاد سیاست او د تادیاتو د بیلانس د توازون له پاره بهتر امکانات وجود لري او پولي سیاست د پیسو د تورم د مقابلې له پاره زیات امکانات لري.د دې برعکس د تبادلې د ثابت نرخ په سیستم کی د تادیاتو بیلانس په اقتصادي سیاست او داخلي پیسو باندې تاثیر اچولو.

ماخذ ( 4 : 451ـ456 )

## ■د اسعاري ذخيرې په توګه د اخيستو د ځانګړي حق(SDR) پيل او انکشاف

څرنګه چې پوهيږو له (1973م) کال څخه مخکې لومړی نړيوال سياليت* د ډالر، طلا او نورو لاربنودو اسعارو څخه او تر يوې اندازې د SDR له يوه ترکيب څخه عبارت ؤ، د امريکا د تادياتو د بيلانس د کسر په نتيجه کې د اوپک هيوادونو د مازاد زياتيدل او د امريکا د بودجې سياست دواړه د ډالرو او نړيوال سياليت بحران زيات کړو. د 60 لسيزی په پيل سره د صنعتي هيوادونو تر منځ د نړيوال پولي سيستم د وظايفو او فعاليتونو په باره کی بحثونه رامنځته شول چې موضوع يې دوه عمده مشکلات ؤ:

اول مشکل د عمده صنعتي هيوادونو د تادياتو د بيلانس د توافق جريان و چې دلته يې نۀ څيړو.

دويم مشکل اسعاري ذخايرو ته د نړۍ تدارکات وو چې ډيری هيوادونه پدی عقيده وو چې د هغه وخت اسعاري ذخاير (ډالر او طلا) د اسعاري ذخايرو اختياجات نۀ شي پوره کولای ، نو بايد داسې يوه وسيله رامنځته شي چې موجوده ذخاير پوره او تکميل کړي، بالاخره په (1969م) کال کی د صندوق د موافقتنامې په تغير سره د اخيستو ځانګړی حق [Special Drawing Right (SDR)] د اسعاري ذخايرو د يوې نوي وسيلې په توګه رامنځته شو.

ماخذ ( 4 : 467 )

---

*نړيوال سياليت:- له يوه طرفه د يوه هيواد توانايي او قدرت د خارجي تادياتو د ترسره کولو له پاره او له بله طرفه سياليت د ټولو پولي ذخيرو (چې له نړيوالو تادياتي وسايلو څخه ترکيب دی) څخه عبارت دی چې تادياتي قدرت تضمينوي.

د SDR پیسو ځانګړتیاوې لري چې د کاغذي طلا په نوم یادیږي، دغه کاغذي طلا د نورو پیسو په څیر د ورکړې وسیله، د تجمع وسیله او د سنجش او مقیاس د یوه واحد په توګه تر استفادې لاندې نیول کیږي. له (1971م) څخه مخکې د SDR د یوه واحد ارزش د 0.88671gr خالصې طلا سره معادل ؤ، دا چې دغه ارزش د یو ډالر له ارزش سره برابریده نو د SDR د یو واحد ارزش له یو ډالر سره مساوي ؤ.

ماخذ ( 2 : 178 )

په طلا باندې د ډالرو د تبادلې د قابلیت له منځه تلل او ورځ تر بلې د ډالر د نرخ راښکته کیدلو په نتیجه کې دا خطر لیدل کیده چې د SDR موجوده ارزش به ډېر هیوادونه ورو ورو کم کړي،علاوه لدې څخه د امریکا بحران او د ډالرو خطر د دې سبب شول چې د طلا او ډالر تر څنګ د نړیوال سیالیت د ذخیرې د یوې وسیلې په توګه یوه نوي وسیله رامنځته شي.

نو د پورتنیو دلایلو په اساس صندوق د SDR د نوي ارزیابۍ په نتیجه کې دا پریکړه وکړه چې د SDR ارزش باید نهٔ یوازې د ډالر پواسطه بلکې د یو زیات شمیر معتبرو اسعارو په اساس چې د صندوق شرایط پوره کړای شي تعین شي.

بالاخره د SDR ارتباط له طلا سره ختم شو او د SDR ارزش له شپاړسو نړیوالو معتبرو اسعارو څخه تعین شو چې د اسعارو د ټوکرۍ په نوم یاد شول، د دغه اسعارو مربوطه هیوادونه له (1968م) څخه تر (1972م) پورې د اجناسو او خدماتو په ټولو نړیوالو صادراتو کې د یو فیصد په اندازه سره برخمند ؤ. د هر پولي واحد وزن او ارزش بې له ډالر څخه په نړیوالو معاملاتو کې ددوی د ونډې په اندازه تعین شو، خو ډالر د خپل خاص موقف په اساس د اسعارو په ټوکرۍ کې د 33% په اندازه ونډه تشکیل کړه.
د ټوکرۍ د اسعارو نومونه او ونډې په لاندې جدول کې ترتیب شوي دي :

| شمیره | هیوادونه او د پولي واحد نوم یې | ونډه په فیصدي | د SDR د یو واحد ارزش |
|---|---|---|---|
| 1 | امریکایي ډالر | 33 | 0.40 |
| 2 | الماني مارک | 12.5 | 0.38 |
| 3 | پونډ سترلنګ | 9 | 0.045 |
| 4 | سویسي فرانک | 7.5 | 0.044 |
| 5 | جاپاني ین | 6 | 26 |
| 6 | کاناډایي ډالر | 6 | 0.071 |
| 7 | ایټالیایي لیره | 4.5 | 47 |
| 8 | هالنډي ګولډن | 3.5 | 0.14 |
| 9 | بلژیکي فرانک | 2.5 | 1.6 |
| 10 | سویډني کرون | 1.5 | 0.13 |
| 11 | استرالیایي ډالر | 1.5 | 0.012 |
| 12 | ډنمارکي کرون | 1.5 | 0.11 |
| 13 | د ناروې کرون | 1.5 | 0.099 |
| 14 | هسپانوي پیزیت | 1.5 | 1.10 |
| 15 | اتریشي شلینګ | 1 | 0.22 |
| 16 | د جنوبي افریقا رند | 1 | 0.0082 |

د پورتني جدول مطابق د SDR د یو واحد ارزش په (1974م) کال د جون په 28مه د شپاړسو اسعارو د ترتیب په اساس په نوي ډول تثبیت شو، دغه ارزش هم د لومړي ارزش معادل ؤ، پدې تفاوت چې لومړنی ارزش صرف د طلا او ډالر په اساس تعین کیده او دوهم ارزش د شپاړسو اسعارو پواسطه تعین شو. د (1981م) له جنورۍ وروسته د ټوکرۍ د اسعارو تعداد له شپاړسو څخه پنځو ته کم شو، چې د اړونده هیواد د هر پولي واحد وزن او تقریبي اهمیت د نړیوالو اجناسو او خدماتو په صادراتو کی د نوموړي هیواد په ونډه او پدی اندازه پورې تړلی وو چې دغه پولي واحد تر کومې اندازې د ذخیروي پولي واحد په توګه  د قبول وړ ګرځیدلی. د ټوکرۍ د ترکیبو اسعارو د وزنونو لست په هرو پنځو کلونو کی تجدیدیږي او د پورتنیو ځانګړتیاوو په نظر کی نیولو سره ځای ورکول کیږي.

ماخذ ( 4 : 468ـ 470 )

<u>د ټوکرۍ د اسعارو لست او د SDR ارزيابي او تغيرات تر (1999) مېلادي کال پورې</u>

| اسعار | د هر پولي واحد مقدار په فيصدي | د پولي واحد ميزان (1996)جنوری اول | د پولي واحد ميزان (1999)جنوری اول |
|---|---|---|---|
| امريکايي ډالر | 39 | 0.5820 | 0.5821 |
| الماني مارک | 21 | 0.4460 | Euro(Germany) 0.2280 |
| جاپاني ين | 18 | 0.2000 | 27.200 |
| فرانسوي فرانک | 11 | 0.8130 | Euro(France) 0.1239 |
| پونډ سټرلنګ | 11 | 0.1050 | 0.1050 |

ماخذ ( 10: 109 )1999م

د (1999م) د جنوري په لومړۍ نيټه يورو د الماني مارک او فرانسوي فرانک په ځای د اسعارو په ټوکرۍ کی ځای ونیوۀ. د SDR ارزيابي يا د ارزش تعين په ټوکرۍ کی د ټولو اسعارو د اوسط په اساس صورت نيسي، او د هغه نورو اسعارو د اخيستو د حق ارزش چې په ټوکرۍ کی شامل ندي د مربوطه اسعارو سره د تبادلې د نرخ په اساس صورت نيسي.

د SDR په ارزیابی کی څو وارې تغيرات او تحولات رامنځته شوی چې په لاندې ډول يې تشريح کوۀ:

- د تاسيس په لومړيو کی د SDR ارزش د يو ډالر سره مساوي ۀ.
- د (1971-1974)م پورې د SDR ارزش د 1.20635 ډالرو سره مساوي ۀ.
- د (1974-1980)م پورې د SDR ارزش د اسعارو د ټوکرۍ د شپاړسو اسعارو په اساس تعين کيده.
- د (1981م) څخه وروسته د SDR ارزش د اسعارو د ټوکرۍ د پنځو اسعارو پواسطه تعين کيږي.

ماخذ ( 6 : 40_41 )

## ● د SDR ځانګړتیاوې او وظایف

مخکې لدې چې دغه وسيله ايجاد شي، دوه نظريې موجودې وې:

اوله نظريه دا وه چې SDR بايد د کتبي پيسو د خصوصيت لرونکي وي، او د دويمې نظريې په اساس SDR بايد د قرضې د اندازې شکل ځانته ونيسي. د پورتنيو دواړه نظريو څخه يو منځنی حالت انتخاب شو، پدی مانا چې SDR له حقوقي پلوه د پوروړي په مقابل کې د دارايۍ يا طلب شکل نۀ لري بلکې د ټولو ګډون والو په مقابل کې د مطالبې د يو شکل (د تبادلې د وړ اسعارو پريښودنه ) لرونکی دی چې پدی حالت کی

هغه هیوادونه چې د SDR څخه استفاده کوي باید د یو معین وخت له تیریدو وروسته یوه معینه اندازه تادیه کړي البته د تبادلې د وړ اسعارو په شکل سره. څرنګه چې SDR د ذخیرې د وسیلې وظیفه سرته ورسوله، نو د اسعاري ذخایرو د یوې وسیلې په توګه حسابیږي.

د SDR څخه لکه د ډالر په ډول د اسعارو په بازار کی د مستقیمې مداخلې له پاره کار نهٔ اخیستل کیږي خو د ضرورت په وخت کې په دریم هیواد کی د مداخلوي اسعارو (ډالر) په مقابل کی تبادله کیدای شي،

اوSDR صرف د پیسو وظایف سرته رسوي او د کانژاکتوري حرکاتو د رهبری له پاره د یوې وسیلې په توګه ترې استفاده نهٔ کیږي. همدارنګه دغه وسیله د صنعتي هیوادونو څخه مخ پر ودې هیوادونو ته د اوږد مهاله حقیقي سرمایې د انتقال خدمت نهٔ ترسره کوي.که څه هم ډیریو مخ پر ودې هیوادونو هیله درلوده چې د SDR او انکشافي کومکونو تر منځ دی یوه رابطه (Link) وجود ولري او ددې نوي وسیلې یوه برخه دې د نړیوال بانک له لارې پدې هیوادونو کی د اوږدمهاله قرضونو په توګه پکار ولویږي، خو دغه نظریه ونه منل شوه، ځکه چې د SDR له ځانګړتیاو سره یې مطابقت نهٔ لرلو.

## ● د SDR ورکړه او اخیستنه

د SDR د توزیع او جذب فیصلې د صندوق په نوي سیستم کی له مهمو تصمیمونو څخه شمیرل کیږي چې د دغه تصمیمونو حق د ګورنرانو د بورډ له پاره ځانګړی شوی دی. فیصلې د 85% رایو په اکثریت سره رامنځته کیږي چې د اروپایي ټولنې هیوادونه د 16.4% رایو حق لري.

د موافقتنامې د 12 مادې په اساس د صندوق عملیاتي ریس د پیشنهاد صلاحیت لري چې دغه پیشنهاد باید د عملیاتي بورډ لخوا تصویب شوی وي، مخکی له دی چې دغه پیشنهاد د ګورنرانو بورډ ته وړاندې شي عملیاتي بورډ باید پوهه وي چې آیا دغه پیشنهاد د اکثریت ملاتړ څخه برخمن دی یا نه؟

د دې پیچلي طرزالعمل په رعایت سره باید څو مرحلې تضمین شي چې SDR د غړي هیواد له واقعي احتیاجاتو سره سمون لري او یواځې د تادیاتو د بیلانس د تمویل له پاره په کار لویږي.

ونلېه هغه وخت ورکول کیږي چې د اکثرو مازاد لرونکو هیوادونو اشتراک او امادګي پدی سیستم کی امکان ولري او په SDR کی د غړو هیوادونو ګورنران کولای شي چې د SDR توزیع رد کړي، هر کله چې نړیوال سیالیت پوره وي نو وجهي صندوق کولای شي چې SDR بیرته تر لاسه کړي چې پدی برخه کی د فیصلې نیول د اخیستو او توزیع د فیصلو په شان دي.

## ● د SDR څخه د استفادې امکانات

د 25 مادې په اساس هر هیواد حق لري چې د صندوق د نورو نامزد(designate) هیوادونو څخه (معمولاً هغه هیوادونه چې د اسعاري ذخایرو او د تادیاتو د بیلانس قوي اقلام لري) د ضرورت وړ اسعار چې د تبادلې وړتیا ولري د SDR په مقابل کی تبدیل کړي؛ خو دا په نامزد هیواد پورې اړه لري چې د تبادلې وړ کوم یو پولي واحد عرضه کوي، که چېرې عرضه شوي اسعار پیسې نهٔ وي نو اخیستونکی هیواد یې په یو بل پولي واحد تبدیلولای شي.

همدارنګه د معاملې دواړه طرفونه په ازاد ډول معامله ترسره کولای شي. د SDR څخه استفاده د اقتصادي سیاست په کومو شرایطو پورې تړاو نهٔ لري او یواځې د تادیاتو د بیلانس د توازون د تمویل له پاره ترې استفاده کیږي.

په روابطو او تادیاتي راکړه ورکړه کی SDR د قبول شویو تادیاتو( subscription payment) له پاره د تادیې د وسیلې په توګه، د قرضونو د اعادې له پاره، د سود د تادیه کولو او د قرضې د محصول لپاره په کار لویږي. صندوق کولای شي چې قرض اخیستونکو هیوادونو ته په اسعاري ذخایرو کی د کموالي د خلا د لمنځه وړو لپاره SDR ورکړي.

په بنیادي ډول د SDR څخه صرف په لنډ مهاله او موقتي ډول استفاده کیږي ځکه چې دغه اخیستنه د تادیاتو د بیلانس د موقتي مشکلاتو د لمنځه وړلو له پاره ده؛ نهٔ د تادیاتو د بیلانس د دایمي تمویل لپاره.

د SDR موقف او شهرت دا ایجابوي چې د اساسي اسعارو ارزش باید ثبات ولري تر څو د SDR اسمي ارزش په ځای پاتې شي. تر هغه ځایه چې تجربو ښودلي د اسعارو په ټوکرۍ کې شاملو اسعارو پدې ډول تغیر ندی کړی چې د SDR د ارزش د کمیدو خطر له ځانه سره ولري، هر کله چې د یو پولي واحد ارزش کم شي نو د بل پولي واحد ارزش زیاتیږي چې دا خپله د اسعارو په ټوکرۍ کې یو توازون رامنځته کوي.

ماخذ ( 4: 471ـ 478 )

# دریم څپرکی

- د IMF اهداف
- د IMF غړي هیوادونه او د غړیتوب ځانګړتیاوې
- په IMF کې رایه اچونه او د هیوادونو ونډې
- د IMF اداري جوړښت
- د IMF د منابعو څخه د استفادې عمومي شرایط
- د IMF خپرونې
- د IMF ارتباط د نورو نړیوالو سازمانونو سره
- د پیسو د نړیوال صندوق او نړیوال بانک تر منځ توپیر
- د IMF په کړنو او سیاستونو باندې انتقادونه
- ماخذونه

## ■ د IMF اهداف

په ټوله کې د پیسو نړیوال صندوق د غړیو هېوادونو تر منځ د مالي همکاریو، د اسعارو د ثبات، نړیوالې سوداګرۍ، اقتصادي ودې، کاري فرصتونو او د مخ پر ودې هېوادونو د ملاتړ لپاره کار کوي؛ دا اداره له مالي بحرانونو سره د مبارزې، د پورونو د منظم مدیریت او د اقتصادونو د ثبات لپاره پورونه او مشورې وړاندې کوي، څو نړیوال مالي نظم خوندي شي. لاندې شمارو کې یې پورته موضوعاتو ته لږ تفصیلي ځای ورکوو:

1) د نړیوالو پولي مسایلو د تشویق، همکارۍ او پراختیا له پاره د یوې دایمي موسسې په توګه کوښښونه.
2) د پیسو د نړیوال مکانیزم د ساتنې پخاطر د اسعارو د نرخ تثبیتول او د هغه رقابتونو مخنیوی چې د پیسو په نرخ کې ټیټوالی رامنځته کوي.
3) د نړیوال تجارت د متوازن رشد او پراختیا له پاره د لازمو شرایطو برابرول چې په نتیجه کې یې د اقتصادي سیاست لومړني هدفونه حاصلیږي، یعنی د استخدام د سطحې،حقیقي عاید او د تولیدي عواملو پراختیا او ساتنه.
4) د غړو هیوادونو تر منځ د جاري معاملاتو په وخت کې د تادیاتو د یو څو اړخیز نظام د ایجاد کوششونه او د اسعارو د محدودیتونو رفع چې د نړیوال تجارت د انکشاف مانع ګرځي.
5) د غړو هیوادونو تر منځ د اعتماد رامنځته کول او په موقته توګه د قرضونو ترلاسه کول څو غړي هیوادونه وکړای شي چې د تادیاتو په بیلانس کې توازون رامنځته کړي، او دغسې اقداماتو ته مخه نکړي چې ملي یا نړیوال اقتصاد ته زیان ورسوي.
6) د تادیاتو په بیلانس کې د عدم توازون د حجم او د هغه د مودې لنډوالی.

ماخذ ( 6 : 7)

## ■ د IMF غړي هیوادونه او د غړیتوب ځانګړتیاوې

IMF د ملګرو ملتونو(UN) او کسوؤ(Kosovo) د (188) غړو هیوادو څخه تشکیل شوی دی، پخواني غړي یې کیوبا(Cuba) په (1964م) کال کی غړیتوب پریښود او د چین جمهوریت چې په (1980م) کی د ملګرو ملتونو څخه وایستل شو او د چین د ولسي جمهوریت په نوم یې بیرته غړیتوب ومنل شو. د کیوبا څخه بغیر نور د ملګرو ملتونو هیوادونه چې د IMF غړیتوب نلري په لاندې ډول دي:

شمالي کوریا، اندورا، موناکو، نیورو، کوک ایسلنډ، نیو، د واتیکان ښار،فلسطین،لیکټنستاین او نور د محدودې پیژندګلوی هیوادونه دي. پخوانی غړی چکسلواکیا په (1954م) کال کی خارج شوی ؤ( د غوښتل شویو معلوماتو د نۀ تیارولو له کبله) چې په (1990م) کال کی بیرته داخل شو. همدارنګه پولینډ په (1950م) کال کی خارج شوی و چې په (1986 م) کال کی یې بیرته غړیتوب ترلاسه کړو.

د پیسو د نړیوال صندوق ټول غړي هیوادونه د نړیوال بانک غړیتوب لري یعنی یواځې د پیسو د نړیوال صندوق غړي هیوادونه کولای شي چې د نړیوال بانک غړیتوب ترلاسه کړي.د یو هیواد د غړیتوب درخواست لومړی د IMF د اجرائیوي بورډ په ذریعه تحلیل او څیړل کیږي چې د یو ځانګړي طرزالعمل او قبلونې څخه وروسته د نوموړي بورډ د سپارښت لیکونو یو راپور البته د غړیتوب د حل د فورم په شکل د IMF د ریئسانو بورډ ته تسلیموي؛ دغه سپارښت لیکونه په IMF کی د داخلیدو له پاره د سهم اندازه، د تادیې اندازه او نور د غړیتوب دودیز شرایط په بر کی نیسي. وروسته تر دې چې د رئیسانو بورډ د غړیتوب حل لاره پیدا کړي نو عارض هیواد اړ دی چې قانوني او لازم ګامونه د خپلو قوانینو تر چتر لاندې پورته کړي څو وکړای شي چې د IMF د تړون مادې لاسلیک کړي او د IMF د غړیتوب مکلفیتونه سرته ورسوي. همدارنګه هر غړی هیواد دا صلاحیت لري چې د IMF د فنډ څخه خپل ځان یوې خواته کړي، خو دغه اقدام معمولاً نۀ پورته کیږي.

ماخذ ( 1 : 9,8,6)

## ■ په IMF کې رایه اچونه او د هیوادونو ونډې

په IMF کې د رایې اچونې قدرت د ونډو د سیستم پر بنیاد ترسره کیږي، هرغړی هیواد د اساسي رایو یو نمبر لري چې له 5.502% ټولو رایو سره مساوي دی، همدارنګه د یو لک (100000) SDR سهم په مقابل کې یو زیات ووټ ترلاسه کوي. لوی تصمیمونه تقریباً 85% غوښ اکثریت ته اړتیا لري چې د امریکا متحده ایالات هغه هیواد دی چې توانیدلی چې دغه لوی اکثریت د ځان کړي.

د شلو صنعتي هیوادونو د مالیې وزیرانو د ( 2010 م ) کال د اکتوبر په 23 نیټه د IMF د غړو هیوادونو د ونډې د اداره کولو په نظر کې نیولو سره دی توافق ته ورسیدل چې د پیسو په نړیوال صندوق کې باید اصلاحات رامنځته کړي او 6% د رایې اچونې سهم یې لویو پرمختیایي ملتونو او ځرګند مارکیټ لرونکو هیوادونو ته تبدیل کړ.

لاندینی جدول د شلو لویو غړو هیوادونو ونډې او د رایې اچونې قدرت ځرګندوي.

نوټ:د رایې اچونې ونډې مخکې له هغه تعهداتو چې د ( 2010م ) کال د جولای په میاشت کې رامنځته شول.

| شماره | د IMF غړي هيوادونه | SDR په مليون | د مجموعي سهم فيصدي | د رايو اندازه | د مجموعي رايو فيصدي |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | امريکا | 42122.4 | 17.27 | 421964 | 16.77 |
| 2 | جاپان | 15628.5 | 6.57 | 157025 | 6.24 |
| 3 | جرمني | 14565.5 | 6.13 | 146395 | 5.82 |
| 4 | فرانسه | 10738.5 | 4.52 | 108125 | 4.30 |
| 5 | برطانيه | 10738.5 | 4.52 | 108125 | 4.30 |
| 6 | چين | 9525.9 | 4.01 | 95999 | 3.82 |
| 7 | ايټاليا | 7882.3 | 3.32 | 79563 | 3.16 |
| 8 | سعودي عرب | 6985.5 | 2.94 | 70595 | 2.81 |
| 9 | کاناډا | 6369.2 | 2.68 | 64432 | 2.56 |
| 10 | روسيه | 5945.4 | 2.50 | 60194 | 2.39 |
| 11 | هند | 5821.5 | 2.45 | 58955 | 2.34 |
| 12 | نيدرلينډ | 5162.4 | 2.17 | 52364 | 2.68 |
| 13 | بلجيم | 4605.2 | 1.94 | 46792 | 1.86 |
| 14 | برازيل | 4250.5 | 1.79 | 43245 | 1.72 |
| 15 | هسپانيه | 4023.4 | 1.69 | 40974 | 1.63 |
| 16 | مکيسکو | 3625.7 | 1.52 | 36997 | 1.47 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 17 | سويس | 3458.5 | 1.45 | 35325 | 1.40 |
| 18 | جنوبي کوریا | 3366.4 | 1.42 | 34404 | 1.37 |
| 19 | استرالیا | 3236.4 | 1.36 | 33104 | 1.32 |
| 20 | وینزویلا | 2659.1 | 1.12 | 27331 | 1.09 |
| 21 | پاتې 166 هیوادونه | 62593.8 | 28.79 | 667438 | 30.05 |

ماخذ ( 1: 11ـ14 )

## ■د IMF اداري جوړښت

د IMF مرکزي دفتر چې په واشنګټن کې دی څلور څانګې لري، چې دوه يې اصلي او دوه يې فرعي څانګې دي، چې اصلي څانګې يې دګورنرانو بورډ او اجرائيوي څانګه ده او فرعي څانګې يې لنډ مهالي او پراختيايي کميټې دي.

د ( 2003 م) کال تر آخره د IMF مجموعي سټاف 28000 کسان ؤ، چې دغه سټاف 15 شعبې، درې رهبرې کوونکې ادارې او څلور نور دفترونه لري. همدارنګه 15 ساحوي شعبې لري لکه افريقايي، اسيايي، اروپايي، د منځيني ختيځ او لويديځې نيمې کرې شعبات.

**د پلاوي مشر يا دګورنرانو بورډ ( Board of Governors)**

پلاوی د پيسو د نړيوال صندوق تر ټولو ستر تصميم نيونکی دی چې د هر غړي هيواد د يو ګورنر
( د ماليې وزير يا د مرکزي بانک مشر ) او يو معاون څخه تشکيل شويدی. د مشرتابه پلاوي د کار موده له وړاندې ټاکل شوي وي او تر هغه چې يې پر ځای نور کسان نهٔ وي ټاکل شوي خپل کار ته دوام ورکوي.

د مشرتابه د پلاوی مهمې دندې په لاندې ډول دي:

- د نويو غړيو د غړيتوب منل
- د ونډو ټاکل
- له ځانګړي صندوقه د SDR د کچې معلومول

د صندوق يو شمير نورې دندې بيا د صندوق اجرائيوي پلاوي ته پرينبودل شويدي. د مشرتابه د پلاوي غونډې د غړو هيوادونو د لږ تر لږه 15 استازو په غوښتنه او يا هم د ټولو غړو د دوه پر دريمه برخې رايو له لارې جوړيږي، دغه غونډې په کال کې يو ځل د

نړیوال بانک له رسمي غونډو سره په عین وخت کی جوړیږي. د IMF او WB کلنۍ غونډې په پرلپسې ډول په واشنګټن کی د دوی په مرکزي دفتر کی جوړیږي خو کله ناکله له امریکا څخه د باندې په کوم بل غړي هیواد کی جوړیږي.

## اجرائیوي پلاوی ( Executive Board)

د صندوق اجرائیوي پلاوی له 24 اجرائیوي مدیرانو او یوه عملیاتي مدیره جوړ دی، چې ځینې یې انتصابي او ځینې یې انتخابي وي. اته هیوادونه هر یو ځانته اجرائیوي مدیر لري چې دغه هیوادونه له امریکا، برتانیا، جرمني، فرانسې، چین، جاپان، سعودي عرب او روسیې څخه عبارت دی. پاتې 16 مدیران د صندوق د نورو غړو هیوادونو له لوري انتخابیږي چې کاري دوره یې دوه کاله ده.

## د IMF اداري مدیر ( Managing Director)

IMF د اداري مدیر تر رهبری لاندې پر مخ ځي څوک چې د ټولو کارکوونکو او خدماتو مشر دی او د اجرائیوي بورډ رئیس دی، چې تر پنځو کالونو پورې دنده پر مخ وړي.
اداري مدیر یو لومړنی مرستیال او درې نور مرستیالان لري، په تاریخي لحاظ د IMF اداري مدیر د اروپا څخه او مرستیال یې د امریکا وي. همدارنګه د نړیوال بانک مشر د امریکا له هیواد څخه وي، خو په راتلونکي کې دې دوه بستونو ته د نړۍ له هرې برخې خلک ځانونه کاندیدولای شي.

## لنډ مهالي کمیټه

دغه کمیټه په لاندې برخه کی صندوق ته شیرنیز رپوټونه برابروي:

- د پیسو په نړیوال سیستم کی د لازم ادلون بدلون یا تعدیلاتو راوستل
- د هغه ناڅاپي اختلافونو ارزول چې د پیسو نړیوال سیستم ورسره مخامخ کیږي
- د اجرائیوي پلاوي له لوري د صندوق په تګلاره کی د اصلاحاتو د راوستو په اړه د شویو وړاندیزونو ارزول.

## پراختیایي کمیټه

په اصل کی دغه کمیټه مخ پر ودې هیوادونو ته د سرچېنو او منابعو د انتقال د کچې د لوړوالي د مطالعې او څېړنې لپاره جوړه شویده، د صندوق د مشرتابه پلاوی او د نړیوال بانک غړي ، وزیران او هغه چارواکي چې د دوو کلونو لپاره ټاکل کیږي د دغې کمیټې غړي دي. د صندوق هر غړی یو اجرائیوي مدیر لري. دغه راز د حکومتونو هره ډله چې یو اجرائیوي مدیر انتخابوي دا حق لري چې د پراختیایي کمیټې ته یو استازی او لږ تر لږه اوه سکرتران واستوي، د دغې کمیټې غونډې معمولاً د موقتي کمیټې له غونډو سره په یو وخت او یو ځای کی کیږي.

ماخذ (9: 113ـ 115 )

## ● د IMF د اداري جوړښت نمونه



***یادونه: د (1998) کال تاسیس، په قوسونو کی داخل اعداد د بودجې د تنظیم کوونکو او کارمندانو مقدار ښیي.***

***(1) هغه موسسه چې د وین له موسسې ملاتړ کوي، په وین کی د زده کړې یو مرکز ( اتریش )***

***(2) په (1998) کال کی پیل، په سنګاپور کی د IMF سره تړلي د زده کړییز مرکز موسسه، یو نوی تاسیس شوی زده کړییز سیمه ییز مرکز چې د IMF له خوا ملاتړ کیږي.***

ماخذ ( 3: 327)

## ■ د IMF د منابعو څخه د استفادې عمومي شرایط

د صندوق مالي منابع او اسانتیاوې د یو شمیر مشخصو سیاستونو او قواعدو په اساس د غړیو هیوادونو په لاس کی لویږي، له دغو منابعو څخه د استفادې عمومي شرایط په لاندې ډول دي:

1) **یو شان لاسرسي:**
دصندوق ټول منابع باید په یو ډول د ټولو غړو په لاس کی ولویږي.

2) **د تادیاتو د بیلانس اړتیا:**
د تادیاتو په بیلانس کی د توازون د منځته راتګ په خاطر د غړي هیواد لپاره مناسبه اصلاحي پالیسي تصویبیږي، چې پدې ترتیب صندوق راساً د غړي هیواد د تادیاتو بیلانس تر ارزیابی لاندې نیسي.

3) **د استفادې وخت:**
د صندوق اساسنامه هیڅکله غړی هیواد نهٔ مجبوروي چې د صندوق د منابعو څخه په یو خاص وخت کی استفاده وکړي، ولې دا په دی مانا نهٔ ده چې صندوق غړیو هیوادونو ته د اړتیا د رفع کولو یا د منابعو څخه د استفادې لپاره لازمي نقطې نهٔ توصیه کوي.

4) **ورکړه د اعتبار په شرط:**
صندوق باید پدی قانع شي چې غړي هیواد د تعادل له پاره مالي منابعو ته اړتیا لري او بیرته یې باید په یوه معینه دوره کی تادیه کړي.

5) **د اعتباراتو د ورکړې مرحله بندي:**
بې له هغه ذخیرې چې په یو ځای ترې استفاده کولای شو، د صندوق نور اعتبارات د قسطونو په ډول په څو مرحلو کی د غړیو هیوادونو په اختیار کی ورکول کیږي.

غړی هیواد باید د ( Letter of intent ) په نوم غوښتنه ولري څو د صندوق د اسانتیاو او سیاستونو څخه چې پواسطه یې د تادیاتو بیلانس تعادل پیدا کوي کار واخلي.

چې د دې غوښتنې قبلیدل درې شرطونه لري:

I. د هر هیواد د تادیاتو د بیلانس شرایط
II. د خارجي ذخایرو میزان
III. د خارجي ذخایرو د وضع لوړوالی

که څه هم دا درې معیارونه د تادیاتو د بیلانس د اړتیا د تشخیص کوونکو عواملو په توګه تعین شوي، ولې پدې مورد قضاوت په کمي او کیفي بررسیو او نورو مختلفو عواملو پورې تړلی دی. صندوق هغه وخت د غړي هیواد اړتیا تائیدوي چې د غړي هیواد څخه دا اطمینان حاصل کړي د پور د تادیه کولو توان لري، چې وروسته د صندوق منابع د خاصو شرایطو په اساس غړیو ته تادیه کیږي.

د مثال په ډول هغه وخت چې د یو هیواد صادرات په موقتي ډول کم شي نو د جبراني مالي تامین له اسانتیاو (CCFF) او یا د موقتي او پراخه ترتیباتو څخه استفاده کولای شي. د اسانتیاو څخه د استفادې په ټوله موده کې صندوق د غړي هیواد د پالیسیو د اجراء د څرنګوالي نظارت کوي څو اطمینان حاصل کړي چې ترسره شوي اقدامات د قرارداد سره مطابقت لري یا نه ؟

صندوق ته د غړیو د مالي تعهداتو د نۀ پر ځای کولو د مخنیوي لپاره صندوق پراخه اقدامات اجراء کړیدي چې په لاندې ډول دي:

- د صندوق دغه غړیو ته د نویو پیسو د ورکړې مخنیوی
- د اسانتیاوو په ورکړه کې د اقرارنامې د میزان لوړول
- د معیارونو تعینول داسې هیوادونو ته چې خپل تعهدات سر ته نشي رسولای

ماخذ ( 6: 12,11,8)

## ■د IMF خپروني

لاندې دوه خپروني د صندوق مهمې کالنی خپروني دي چې اوله له (1946م) او دوهمه له (1950م ) کال څخه تر اوسه خپرېږي:

1) Annual Report of Executive Board to Board of Governors

2) Annual Report on Exchange Arrangements' and Exchange Restrictions

د صندوق نوره نشريات عبارت دي له :

3) International financial statistics

4) Direction of trade

5) Government finance

6) Finance and Development

7) Occasional papers

8) World Economic 1999, (outwork)

9) IMF survey

## زده کړییز او فني کومکونه

د پیسو نړیوال صندوق له (1947م) کال څخه راوروسته پرمختیایي هیوادونو ته فني او زده کړییز خدمتونه برابروي، چې دغه خدمتونه د هیوادونو د اقتصادي مدیریت په رغونه کې ډیر موثر دي ځکه چې ډیری خدمات په اقتصادي او مالي مسایلو کې تر سره کیږي. د صندوق فني خدمات د صندوق د یوې منابع په توګه حسابولای شو، همدارنګه د صندوق یو بل زده کړییز خدمت د سلا او مشورې ورکول دي.

ماخذ ( 6: 12,11,8)

## ■ د IMF ارتباط د نورو نړیوالو سازمانونو سره

د پیسو نړیوال صندوق د ټولو نړیوالو موسساتو سره چې په اقتصادي، تجارتي او پولي ساحه کی وظیفې اجراء کوي نږدې همکاري لري، په ځانګړي ډول د نړیوال بانک او د هغه له ګروپ سره چې په برتن ووډز کی په یو ځای تاسیس شویدي نږدې ارتباط لري. د مطابقتي سیاست په ساحه کی د نړیوال بانک سره د صندوق د نږدې همکاری له لارې صندوق په غیر مستقیم ډول د منطقوي انکشافي بانکونو په فعالیتونو باندې تاثیر واردوي. همدارنګه په نړیوال بانک کی د عضویت لپاره په IMF کی عضویت لازمي دی او دغه دواړه سازمانونه کالنی مشترکه جلسه لري. داچې IMF د ملګرو ملتونو د سازمان یو تخصصي سازمان دی، نو په ملګرو ملتونو کی یو دایمي نماینده لري او د هغه له نورو تخصصي سازمانونو سره لکه GATT او UNTAAD سره نږدې همکاري لري، چې صندوق GAAT ته د اسعاري ذخایرو او خارج ته د هیوادونو د تادیاتي راکړې ورکړې په برخه کی مشوري ورکوي، حتی هغه معلومات چې د صندوق لخوا په پورتنیو مسایلو کی ورکول کیږي د GAAT لخوا باید عملي شي.

**لاندیني ټول سازمانونه د صندوق سره ارتباط لري:**

- د امریکایي هیوادونو سازمان (DAS)
- اروپایي ټولنه (EC)
- د اقتصادي همکاریو او پراختیا سازمان (OECD)
- د امریکایي هیوادونو کمیټه
- لویدیځ اسیایي موسسات (WASI)
- د امریکا د لویې وچې پراختیایي بانک (IDB)
- د تصفیې نړیوال بانک (ISB)
- د پراختیا بانک او د افریقا،اسیا،لاتینی امریکا او لویدیځی اسیا مالي موسسات

ماخذ (4: 479)

## ■ د پیسو د نړیوال صندوق او نړیوال بانک تر منځ توپیر

دا چې دواړه سازمانونه په یو ځای او یو کال تاسیس شوي، نو ځینې خلک له اشتباه سره مخ کیږي او دندې یې یو شان بولي، خو دغه سازمانونه په بشپړه توګه بیل او جلا دي. د دې لپاره چې د دې دوه سازمانونو په فعالیتونو په سم ډول وپوهیږو، نو په لاندې جدول کې یې خلاصه کوو.

| نړیوال بانک (WB) | د پیسو نړیوال صندوق (IMF) |
|---|---|
| د نړۍ د مخ پر ودې هیوادونو سره د اقتصادي پرمختیا لپاره کومکونه | د نړیوال پولي نظام څارنه |
| مخ پر ودې هیوادونو سره د مالي تامین او عمراني طرحو له لارې کومکونه | د اسعاري نظام ثابتول او دغړیو هیوادونو تر منځ د مناسباتو تنظیم |
| د هغه غړیو هیوادونو سره مرسته چې سړي سر عاید یې په کال کې له 400$ کم وي<br>( د پرمختیا نړیواله اداره IDA ) | د هغه غړیو هیوادونو سره همکاري چې د تادیاتو په بیلانس کې کسر ولري |
| مخ پر ودې هیوادونو کې د خصوصي سکتور د سرمایګذاریو تشویق<br>د نړیوال مالي شرکت (IFC) لخوا | د نړیوال نغدوالي د زیاتولو له پاره د (SDR) تخصیص |
| مالي منابع له نړیوالو پولي بازارونو څخه تر لاسه کوي | مالي منابع د اعضاو له ونډو څخه تر لاسه کوي |

ماخذ (8: 55)

## ■ د IMF په کړنو او سیاستونو باندې انتقادونه

IMF چې د (188) هیوادونو تر منځ د همکارۍ یو دایمي سازمان دی چې په نړیوالو پولي او مالي مسایلو باندې راڅرخیږي. د دغه سازمان کړنې او سیاستونه له پخوا څخه د زیاتو انتقادونو لاندې دي چې دغه انتقادونه په لاندې ډول دي.

**1 ) IMF د ازاد اقتصاد طرفدار دی او همدغه فلسفه خپروي:**

د صندوق په کړنو او سیاستونو دا یو مهم انتقاد دی چې صندوق بې له دې چې د غړي هیواد اقتصادي نظام ته توجه وکړي کوشش کوي چې خپل سیاستونه د ازاد اقتصاد پر فلسفه استوار کړي، چې ازاد اقتصاد د تجارتي او اسعاري محدودیتونو مخالف دی.

**2 ) صندوق یو ډول اقتصادي سیاستونه مختلفو اقتصادي نظامونو ته پیشنهادوي:**

بل انتقاد په صندوق دا دی چې صندوق ټولو ناروغه اقتصادونو ته یو ډول نسخه وړاندې کوي، پداسې حال کی چې د هیوادونو د خارجي تادیاتو مربوطه مسایل کاملاً توپیر لري،
نو ددې مشکلاتو لپاره باید اقتصادي سیاستونه هم توپیر ولري.

**3 ) د صندوق پواسطه توصیه شوي سیاستونه د اقتصادي رشد مانع ګرځي :**

هغه سیاستونه چې صندوق یې غړي هیواد ته پیشنهادوي په عمومي ډول پولي او مالي انقباضي سیاستونه دي، ځکه چې دغه هیوادونه د خارجي تادیاتو د بیلانس د کسر او د داخلي تورم سره مخ دي، چې صندوق د دې شرایطو لپاره د تقاضا کمبود حل لاره بولي چې دا امر د استخدام سطحه ټیټوي او د اقتصادي رشد نرخ کموالی کوي.

**4 ) د صندوق اقتصادي برنامې غریب هیوادونه نور هم غریبوي :**

*لکه چې مخکې اشاره وشوه، د صندوق اقتصادي برنامې په عمومي ډول انقباضي خاصیت لري او سیاستونه یې لکه د دولتي بودجې د کسر کموالی، د اجورې د نرخ تثبیت او د سوبسیدیو له منځه وړل یې مهمې اجزاوې دي، چې د بودجې د کسر اصلاح د استخدام سطحه ټیټوي، د اجورې د نرخ تثبیت په هغه ټولنه کی چې تورم لوړ وي حقیقي عاید کموي*

*او د سوبسیدیو له منځه وړل چې په ستراتیژیکو غذایي کالاو پورې ارتباط لري، د دوی قیمتونه لوړوي. نو په دی اساس د پورتنیو سیاستونو عملي کول د ټولنې ټیټه او متوسطه طبقه زیانمنوي او د لوړ عاید لرونکي په طبقه منفي اثرات لري.*

**5 ) مخ پر ودې هیوادونه د صندوق د سیاستونو په نیولو کی کوم رول نلري:**

*یو بل مهم انتقاد دا دی چې امریکا، غربي اروپا او جاپان په تصمیم نیولو کی ټاکوونکی رول لري، ځیني هغه تصمیمونه چې د 85% رایو، یو شمیر نور د 70% رایو او باقي د اکثریت رایو پواسطه ترسره کیږي، پورتني هیوادونه کولای شي چې دغه تصمیمونه رد کړي. غربي هیوادونه او د امریکا متحده ایالات IMF ته د یو سهامي شرکت په سترګه ګوري یعنی کوم سهم لرونکي چې د شرکت زیاته سرمایه تامینوي نو همدومره زیاته برخه باید د صندوق په تګلارو او سرنوشت کی ولري. د امریکا متحده ایالات چې په یواځې ځان د صندوق 20% مالي منابع تامینوي نو په صندوق کی زیات قدرت لري.*

ماخذ (6: 19ـ 24 )

## ■ ماخذونه


1) (افغان ) شیرمحمد (1390هـ ش) د برتن ووډز د نړیوال کنفرانس پریکړې، اداره او تجارت پوهنځۍ، شیخ زاید پوهنتون خوست
2) حقوق بین الملل اقتصادی، ایگناس زایدل هوهن فلدرن؛ ترجمه : زمانی قاسم (1384هـ ش)
موسسه مطالعات وپژوهشهای حقوقی شهر دانش، چاپ سوم، تهران
3) سازمان های بین المللی، پیز۔کلی۔گیت؛ ترجمه :شریفی طراز کوهی، حسین (1384هـ ش)
نشر میزان، چاپ اول ۔ تهران
4) ( شبان ) محمد انور او ( اسد ) محمد نعیم (1376هـ ش) اقتصاد بین المللی و ممالک روبا انکشاف، نیو زمان پرنټرز،محله جنگی،پیښور
5) ( عثماني) محمد تقي (1383هـ ش) اسلام او نوی اقتصاد
6) ( مشبکی) اصغر (1387هـ ش) سازمان های پولی و مالی بین المللی با نگرشی بر ادغام های اقتصادی منطقه ای وفرا منطقه ای،
انتشارات جهاد دانشگاهی، واحد علامه طباطبایی، چاپ پنجم، تهران
7) ( موسی زاده ) رضا (1386هـ ش) سازمان های بین المللی، نشر میزان، چاپ هشتم ۔ تهران
8) ( منگل ) مامور الدین (1391هـ ش) لیکچر نوټ بانکي تصدي، اداره او تجارت پوهنځۍ ۔ شیخ زاید پوهنتون خوست
9) ( هاند ) محمد جعفر (1391هـ ش) نړیوال سازمانونه، مومند خپرندویه ټولنه، لومړی چاپ ۔ جلال اباد
10) International Monetary Fund – Annual Report from 1975 - 2000

# IMF

(INTERNATIONAL MONETARY FUND)

- د ( IMF) د منځته راتګ علتونه او پېشنهادي طرحې
- د برتن ووډز کنفرانس او اساسي عناصر او زوال
- د آزادي تبادلې د قابلیت اصل
- د اسعارو او طلا ستنډرډ
- د تبادلې د ثابت او بدلیدونکي نرخ سیستم
- د لا رښود پولي واحد سیستم
- د (SDR) پیل، انکشاف، ځانګړنې، وظایف اوشرایط
- د (IMF) اهداف
- د (IMF) غړي هیوادونه او د غړیتوب ځانګړتیاوې
- په (IMF) کی رایه اچونه او د هیوادونو ونډې
- د(IMF) اداري جوړښت
- د (IMF) د منابعو څخه د استفادې عمومي شرایط
- د(IMF) خپروني
- د(IMF) ارتباط د نورو نړیوالو سازمانونو سره
- د (IMF) په کړنو او سیاستونو باندې انتقادونه